څېړنیزه مقاله

# په افغانستان کې نشه یي توکي او پرمختیا:

## د ملي پالیسۍ او فعالانو شننه

ادم پین، کاوه کرامی او اورځلا نعمت

وری ۱۴۰۰



drugs & (dis)order

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دغه څېړنه له انګلیسي نه پښتو ژبې ته ژباړلې ده. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د نړیوالو سازمانونو دهغه نړیوال کنسرسیوم یوه فعاله غړې ده کوم چې دغه څېړنه یې چمتو کړې.


ژباړه: احسان الله ځیرک

د خپرونې کوډ ۲۱۰۳ پ

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۷۱۶



©۱۴۰۰ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یواځې د غیري سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دې شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شي. که چیری دغه خپرونه بیا چاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لېږدول کیږي باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ) ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیرې له لیارې اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.



## د نشه يي توکي او بې نظمۍ (يا نظم) په اړه

نشه يي توکي او بې نظمي(نظم): تر جګړې په وروسته ډګر کې د سولې پرمهال د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، د پاېښت لرونکي اقتصاد رامنځ ته کول يوه څلور کلنه څېړنيزه پروژه ده، چې په افغانستان، کولمبيا او ميانمار هېوادونو کې د نشه يي توکو له ناقانونه اقتصاد د سولې اقتصاد پر لور د تګ څرنګوالي په تړاو اړين شواهد وړاندې کوي. دا څېړنه د نشه يي توکو، شخړې او جګړې په برخه کې د بې سياله پېژندل شويو نړيوالو سازمانونو د نړيوال کنسرسيوم د کار پايله ده. د دې پروژې مشري د لندن SOAS پوهنتون پرغاړه ده او د پروژې همکاران: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU), Alcis د کاچين لېنډ څېړنيز مرکز(KRC)، د لندن حفظ الصحې او ګرمسيري درملو پوهنتون(LSHTM)، د پايدارې ودې او څېړنو موسسه(OSDR)، د اکسفورډ پوهنتون د نړيوالو او سيمه ييزو مطالعاتو پوهنځۍ(OSGA)، مثبت منفي (Positive Negative) د شان هيرالډ خبري اژانس(SHAN)، لاس انديس پوهنتون او د کولمبيا ملي پوهنتونونونه دي.

دا څېړنه د برېتانيا د څېړنې او نوښتونو ادارې اړوند د نړيوالو ننګونو د څېړنې بودجې(GCRF) له خوا تمويل شوې ده. په دې څېړنه کې وړاندې شوې نظريات د ليکوالانو دي او د نړيوالو ننګونو د څېړنې بودجې په سازمان، برېتانيا حکومت يا هم همکارو سازمانونو نظر نه منعکسوي.

GCRF Global Challenges Research Fund

UK Research and Innovation

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویډن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

The World Bank, Global Challenges Research Fund (GCRF), Institute of Development Studies (IDS), and the Foundation to Promote Open Society (FPOS).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af



# د موضوعاتو لیکلړ


لنډیزونه او اصطلاحات ... ۷
تقریظ ... ۹
د لیکوالانو په اړه ... ۹
لنډیز ... ۱۰
۱. سریزه ... ۱۲
۲. شالید ... ۱۵
په افغانستان کې پالیسي جوړونه ... ۱۵
په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسیو جوړول ... ۱۷
د حقوقي او پالیسي چوکاټونو ارزول ... ۱۸
۳. اداري جوړښتونه ... ۲۳
۴. د پالیسۍ اجراء کول ... ۲۵
۵. د پالیسۍ د برخو، ښکېلو لوریو، بهیرونو او د روایتونو شننه ... ۲۷
نشه یي توکي او امنیت ... ۲۸
نشه یي توکي او سوله ... ۳۰
نشه یي توکي او روغتیا ... ۳۲
نشه یي توکي او معیشتي پروګرامونه ... ۳۵
اطلاعات او شواهد ... ۳۹
پایلې او اغېزې ... ۴۲
سرچینې ... ۴۵

# لنډيزونه او اصطلاحات

| | |
|---|---|
| ABP | افغان سرحدي پوليس |
| ADP/N | د بديل ودې پروګرام/شمال زون |
| ANSDF | افغان ملي امنيتي ځواکونه |
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| AVIPA | Afghanistan Vouchers for Increased Production in Agriculture |
| CARD-F | Comprehensive Agriculture and Rural Development Facility |
| CERP | د قوماندانانو بېړني ځواب پروګرام |
| CNC | د امريکا متحده ايالاتو مرکزي ادارې(سی ای اي) له جرايمو او نشه يي توکو سره د مبارزې مرکز |
| CND | له نشه يي توکو سره د مبارزې رياست |
| CNJC | له نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي مرکز |
| CNPA | له نشه يي توکو سره د افغانستان مبارزې پوليس |
| DDR | د نشه يي توکو د تقاضا کمېدل |
| DDRP | د نشه يي توکود تقاضا کمولو پاليسي |
| DEA | پر نشه يي توکو د څارنې اداره |
| DFID | د نړيوالې پراختيا اداره |
| DOD | د امريکا متحده ايالاتو د دفاع وزارت |
| EDP | د اقتصادي ودې کڅوړه |
| EU | اروپايي ټولنه |
| INGO | نړيواله غير دولتي موسسه |
| GIZ | د المان نړيواله پراختيايي اداره |
| GIROA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| GLE | د حکومت له لورې د کوکنارو د کښت اړول |
| INL | د نړيوالو نشه يي توکو او قانون حاکميت چارو بيرو |
| MCN | له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت |
| MILL | د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MOPH | د عامې روغتيا وزارت |
| MOI | د کورنيو چارو وزارت |
| NATO | ناټو يا د شمالي اتلانتيک معاهدې سازمان |
| NDAP | له نشه يي توکو سره د مبارزې عمل ملي پلان |

| | |
|---|---|
| NDCS | په ملي کچه د نشه يي توکو د ولکې تګلاره |
| NDS | ملي امنيت عمومي رياست |
| NGO | غيردولتي موسسه |
| NPP | د ملي لومړيتوب پروګرام |
| ODA | رسمي پراختيايي مرسته |
| PEF | د کوکنارو اړولو ځواک |
| RADP | د سمه ييزې کرنې د ودې پروګرام |
| RALF | د ژوندانه تمويل پر بديلونو څېړنه |
| SIGAR | د افغانستان بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش(سيګار) |
| SSR | د امنيتي سکتور اصلاحات |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پراختيايي صندوق |
| UNODC | له نشه يي توکو او جرايمو سره د مبارزې په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر |
| US | امريکا متحده ايالات |
| USAID | د امريکا متحده ايالاتو نړيواله پراختيايي اداره |
| WADAN | د افغانستان د پرمختګ لپاره د ټولنيزې ودې سازمان |
| ABP | افغان پوله ساتونکي پوليس |
| ADP/N | د بديل ودې پروګرام/شمالي زون |

# تقریظ

د لندن په (SOAS) پوهنتون کې د نشه يي توکو او بې نظمۍ (نظم) پروژې همکارانو او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې له مرستې او ملاتړ پرته د دې څېړنې ترسره کول ناشوني وو. په تېره بيا موږ له جوناتان ګوډهنډ، جاسمين بهاتيا، کارين براک، جان کوهلر او له هغو ټولو مننډوی يو، چې د دې څېړنيز ګڼ شمېر بڼې يې ولوستې او له موږ سره يې خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړل. د دې ترڅنګ موږ له خپلو ټولو برخه والو هم مننډوی يو، چې د دې څېړنې لپاره يې مرکې ترسره کړې او له موږ سره يې د اطلاعاتو، معلوماتو او خپلو ليډلوريو د شريکولو له لارې مرسته وکړه. پردې سربېره، موږ د راس ايونټون څېړنيز سلا مشورتي شرکت مننه کوو، چې له موږ سره يې د دويم ځل کتنې په برخه کې له ادبي اړخه مرسته او ملاتړ وکړ.

# د ليکوالانو په اړه

ادم پين د افغانستان د څېړنې او ارزونې له ادارې سره د افغانستان کليوالي اقتصاد اړوند د کوکنارو کرنې په ګډون د ګڼ شمېر موضوعاتو په برخه کې له ۲۰۰۱ زيږديز کال راپه دېخوا د دې ادارې له تاسيس تر دې مهاله کار کړی دی. نوموړی له ۲۰۰۷زيږديز کال را په دېخوا د سويډن کرنيزو علومو پوهنتون د کليوالي او ښاري پراختيا څانګې وقفه يي استاد دی. نوموړی د کليو پراختيا په تړاو د کيجل هانسن وروستي چاپ شوي درسي کتاب مرستيال ليکوال هم دی(راوټلج، ۲۰۱۹).

کاوه کرامي يو خپلواک سلاکار او د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د سياسي علومو مرستيال استاد دی. نوموړی د دې ترڅنګ په پراختيايي مطالعاتو کې د لندن SOAS پوهنتون کې د دکتورا څېړنې محصل هم دی. د دې څېړنې لپاره يې په افغانستان کې د سيمه ييز کار پرمهال په نشه يي توکو کې له ښکېلو اړخونو سره ۲۰ ژورې مرکې ترسره کړې دي. پردې سربېره يې د دې راپور په ليکلو کې هم مرسته کړې ده.

اورځلا نعمت د افغانستان څېړنې او ارزونې ادارې رئيسه او د نشه يي توکو او بې نظمۍ (نظم) پروژې د اجرائيوي ډلې غړيتوب هم لري. اغلې نعمت د لندن له SOAS پوهنتون څخه په پراختيايي مطالعاتو کې دکتورا او د لندن پوهنتون کالج څخه يې د ټولنيزې پراختيا په برخه کې ماستري ترلاسه کړې ده. د اغلې نعمت د دکتورا تمرکز په افغان کليوالي سيمو کې د ځايي حکومتوالۍ د اړيکو بڼې په بدلون کې د بهرنيو لاسوهنو پر څرنګوالي و. د اکاډميک ډګر يوې غړې او فعالې په توګه يې د خپل مسلک دوې لسيزې پراختيايي مطالعاتو، بشري حقونو او د ښځو حقونو، دغه راز په سياسي توکم پوهنه، شخړې، جنسيت او پراختيا کې مطالعاتو او څېړنو ته وقف کړې دي. د دې ترڅنګ په يل پوهنتون کې د يل نړيوالې محصلې وياړ هم لري. د مايچلسون په انسټيټيوټ (ناروې) کې د مېلمه غړې او په نړيوال اقتصادي فورم کې د ځواني نړيوالې مشرې په توګه غړيتوب لري.

# لنډیز

د افغانستان د اپیمو اقتصاد د پالیسۍ یوه پېچلې ستونزه په ګوته کوي. هغه دا چې یاد اقتصاد د ګڼ شمېر ناهمغږو پالیسیو ترمنځ پرتعامل ولاړ دی، یعنې دا چې: ایا نشه يي توکو ته د یوې بېړنۍ پراختیايي موضوع په توګه وکتل شي، د قانون او نظم موضوع له اړخه یا دا چې امنیت ته د ګواښ په نظر ورته وکتل شي؛ ایا یاده موضوع د سولې ټینګښت لپاره یو فرصت دی، که د شخړې راپورته کېدو سرچینه ده؛ او دا چې د روغتیايي موضوع ، که د خلکو د ژوند د خوندیتوب توکي په توګه ورته وکتل شي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې ډېری اړخونه یو له بله سره د تړاو لرونکو پالیسیو له هغو ننګونو کیسئ کوي، چې د اپیمو اقتصاد یې وړاندې کوي. که څه هم له ۲۰۰۱زېږدیز کال را پدېخوا چې په افغانستان کې له نشه يي توکو سره مبارزې ته پام شوی، خو له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسي د شاوخوا شلو کلونو په تېرېدو د اپیمو په له منځه وړلو یا لږ تر لږه ولکه کې پاتې راغلې ده.

د کوکنارو په کښت کې سخت زیاتوالی راغلی او په ۱۹۹۴زېږدیز کال کې پر کوکنارو د کرل شوې ۷۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې څخه یې کچه په ۲۰۱۷زېږدیز کال کې اندازه ۲۰۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې ته لوړه شوې ده(له نشه يي توکو او جرایمو سره د مبارزې په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر یا NODC، ۲۰۱۷ز ) له ۲۰۰۱ زېږدیز کال را په دېخوا د امریکا متحده ایالاتو حکومت په یوازېتوب سره شاوخوا 7.۲۸ میلیارده امریکایي ډالره له نشه يي توکو سره د مبارزې پر پروګرامونو لګولي او په بدل کې یې د خپلې پالیسۍ موخو ته په رسېدو کې ډېر کم څه ترلاسه کړي دي. د پالیسۍ دا ډول پاتې راتلل د روښانه موخو په رڼا کې وضاحت ته اړتیا لري.

دا راپور په دې لټه کې دی، چې پورته یاد شوی وضاحت وړاندې کړي. د دې کار لپاره هغو قوانینو ، پالیسیو او پروګرامونو ته کتنه کوي او پر شالید یې وړاندوینه کوي، چې له ۲۰۰۱زېږدیز کال را په دېخوا یې له نشه يي توکو سره د مبارزې هڅې پیکه کړې دي.

په دې کار سره د دې راپور هڅه دا ده، چې د نشه يي توکو او نظم(بې نظمۍ ) پروژې د اړوند پالیسیو په پروسو کې د ښکېلتیا لپاره فرصتونه رسم کړي. دا راپور له هغو پخوانیو اسنادو په ګټې اخېستنې چمتو شوی، چې له مستندو شواهدو او باخبره وګړو سره د مرکو له لارې لیکل شوي او د نورو اضافي سرچینو په کتنې سره لا غني شوی دی.

دا راپور له نشه يي توکو سره د مبارزې حقوقي او پالیسۍ چوکاټونو تر ارزونې د مخه په افغانستان کې د پالیسۍ جوړونې منځپانګې په تړاو شالید وړاندې کوي. ورپسې د پالیسۍ اړینو برخو پر لوبغاړو او د دوی پر روایتونو په تمرکز له امنیت، سولې، روغتیا او ژوندانه سره د دوی اړیکه څېړل کېږي او په وروستۍ برخه کې هغو معلوماتو او شواهدو ته کتنه کوي، چې د پالیسۍ جوړونې د پلي کېدو له اړخه مو خبروي.

دا راپور په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ د ننګونو په تړاو پر پراخ شموله بحث پای مومي.

د افغان حکومت په ګډون د پالیسۍ لوبغاړو ترمنځ له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې متنوع، متضادې او منازعه امیزې تګلارې شته دي. پردې سربېره، د امریکا متحده ایالاتو د حکومت د ننه هم د ګټو بېلا بېل تعریفونه شته دي.

د امریکا متحده ایالاتو حکومت د تمویل له اړخه له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې پر عمده لوبغاړي بدل شوی دی. له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د امریکا متحده ایالاتو هڅو د کښت له اړولو د هغوی بندیزونو پر لور بدلون کړی، چې زیاتره تمرکز یې د نشه يي توکو او له بلواګرۍ سره د مبارزې ترمنځ پر اړیکه دی او د بدیل ودې پروګرام چې ډېره کمه ونډه لري، هم ور سره یو ځای دی. د امریکا متحده ایالاتو حکومت په داخل کې ارزونه دې پایلې ته رسېدلې ده، چې امریکا متحده ایالات له نشه يي توکو سره د مبارزې غوره ستراتیژۍ په پلي کېدو کې پاتې راغلي دي.

په واقعیت کې دا له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ په برخه کې د عمده لوبغاړو ترمنځ نه انسجام په ډاګه کوي، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ په پاتې راتلو کې تر ټولو عمده ځانګړنه ګڼل کېږي. بېلا بېلو لوبغاړو په خپلو ستراتیژیو کې بېلا بېلې ګټې سنجولي دي، او افغان حکومت چې په دې برخه کې و بشلی دی، په داسې مقام کې نه و، څو خپلې ګټې تعریف او په ګوته کړي. دا هم روښانه خبره ده، چې بېلا بېلو لوبغاړو د افغانستان د پالیسۍ ستونزې په بېلا بېلو بڼو تعریف کړې دي، له دې کبله د ممکنه حل لارو په تړاو يې هر ډول هوکړه ترلاسه کول ستونزمن کړي دي.

دا ستونزې په ستراتیژیکه کچه دي، ځکه يې پاتې راتلل هم په لوړه کچه دي: په ورته وخت کې د امنیت، سولې، دولت جوړونې او پرمختګ ترلاسه کولو لپاره حرص، مګر په ناهمغږي ډول، د کوکنارو کښت له اقتصاد سره د مبارزې رغوونکي هر ډول هڅې له ناکامۍ سره مخ کړې دي.

د ناهمغږو موخو د پالیسۍ درې اړخیز والی(رودریک، ۲۰۱۱؛ ګوډهنډ ایټ ال، ۲۰۲۰) د لومړیتوب پېژندنې، پایلې او د امنیت، دولت جوړونې، کوکنارو کښت راکمولو او پرمختګ ترمنځ د دوه اړخیزې اړیکې مدیریت په ګډه د دې لامل ګرځېدلي، چې د رغنده هڅو ډېرې کمې موخې ترلاسه شي.

د نشه يي توکو او نظم(بې نظمۍ) پروژې لپاره دا کار د ننګونو اغېزناکې پالیسۍ په تړاو د حل لارې موندل ستونزمنوي. ښايي له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د اړینو موضوعاتو په تړاو د عامه بحثونو سره د مرستې په هڅه کې ډېر لوی شمېر فرصتونه نغښتي وي، او ښايي په عملیاتي کچه د نشه يي توکو او روغتیا دغه راز بدیل پراختیا په برخه کې د ښکېلېدو لپاره یوه ځانګړې سیمه موجوده وي.

# ۱.   سریزه

د افغانستان د اپيمو اقتصاد د پاليسۍ یوه پېچلې ستونزه چې په ګوته کوي هغه دا چې یاد اقتصاد د ګڼ شمېر ناهمغږو پاليسيو ترمنځ پرتعامل ولاړ دی، یعنې دا چې: ایا نشه يي توکو ته د یوې ببرڼې که پراختیايي موضوع په توګه وکتل شي، د قانون او نظم موضوع له اړخه یا دا چې امنیت ته د ګواښ له اړخه وکتل شي؛ ایا یاده موضوع د سولې ټینګښت یو فرصت دی، که د شخړې راپورته کېدو سرچینه ده؛ او دا چې د روغتیايي موضوع ، که د خلکو د ژوند د خوندیتوب توکي په توګه له زاويې ورته وکتل شي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې ډېرى اړخونه يو له بله سره د تړاو لرونکو پاليسيو له هغو ننګونو کیسئ کوي، چې د اپيمو اقتصاد يې وړاندې کوي. که څه هم له ۲۰۰۱ زیږدیز کال راپدېخوا چې په افغانستان کې له نشه يي توکو سره مبارزې ته پام شوی، خو له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسي د شاوخوا شلو کلونو په تېرېدو د اپيمو په له منځه وړلو یا لږ تر لږه ولکه کې پاتې راغلې ده.

د کوکنارو په کښت کې سخت زیاتوالی راغلی او په ۱۹۹۴ زیږدیز کال کې پر اپیمو د کرل شوې ۷۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې څخه یې په ۲۰۱۲ زیږدیز کال کې اندازه ۲۰۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې ته لوړه شوې ده (له نشه يي توکو او جرايمو سره د مبارزې په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر یا NODC، ۲۰۱۲ز) له ۲۰۰۱ زیږدیز کال راپه دېخوا د امریکا متحده ایالاتو حکومت په یوازېتوب سره شاوخوا ۷.۲۸ میلیارده امریکايي ډالره له نشه يي توکو سره د مبارزې پر پروګرامونو لګولي او په بدل کې يې د خپلې پاليسۍ موخو ته په رسېدو کې ډېر کم څه ترلاسه کړي دي. د پاليسۍ دا ډول پاتې راتلل د روښانه موخو په رڼا کې وضاحت ته اړتیا لري. (۱ انځور)

۱ انځور په افغانستان کې د کوکنارو کښت

**په افغانستان کې د کوکنارو کښت څرنګه وده وکړه**

په افغانستان کې کښت د هکتار په کچه (۱۹۹۴-۲۰۱۸)




Source: UNODC / Afghan government opium surveys

BBC

دا ډېره ستونزمنه ده، چې د بل هر اړخ په پرتلې د روښانه موخو له مخې په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ پاتې راتلل په ډاګه شي. په ۲۰۰۹زيږدیز کال کې د پاکستان او افغانستان په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړي استازي ریچارډ هولبروک په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د امریکا متحده ایالاتو مبارزې هڅې یوازې د وخت ضایعه وګڼله او ويې ویل، چې یاد پروګرام تر ټولو هغه بې اغیزې پروګرام دی، چې ما په خپلو تېرو څلوېښتو کلونو کې د حکومت د ننه او د باندې لیدلی دی.[1] د دې پالیسۍ دا پاتې راتلل وضاحت ته اړتیا لري.

څرنګه چې په راپور کې هم پرې رڼا چول شوي، له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د فعالو لوبغاړو له لوري متنوع، متضادې او حتی یو له بل سره په ټکر کې تګلارې غوره شوي دي. دا راپور هڅه کوي چې د دې پالیسۍ په پاتې راتلو کې د یوې برخې په توګه د لوبغاړو ونډه او له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان پالیسۍ سیمه ترسیم کړي.

موږ د پالیسۍ رژیم پرځای د پالیسۍ سیمې په توګه له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د تعریفونو او پولو ، ولکه ټکنالوجۍ او پالیسۍ چوکاټونو د طبعي اختلاف له مخې له ګوډهنډ او نورو(۲۰۲۰) څخه پیروي کوو.

په ریښتیا کې له نشه يي توکو سره د مبارزې برخه د ملي او نړیوالو دواړو لوبغاړو په ګډون په افغانستان کې د ټولو پالیسیو له ډلې تر ټولو عمده ننګونکې برخه ده. مګر لکه څرنګه چې په راتلونکو بحثونو کې به جوته شي، په افغانستان کې او د افغانستان لپاره پالیسۍ جوړونه په ټولو سکتورونو کې له ډېرې سیالۍ برخمنه ده، چې په دې برخه کې هر هغه ثوک بریا ته رسیږي، چې له مالي پلوه ځواکمن وي.

په دې راپور کې د ونډه والو له ترسیم شوې تګلارې پیروي نه ده شوې. دلته د ونډه وال اصطلاح هغه څه ته په کتو ، چې له ډموکراټیک اړخه عقلاني او د خبرو اترو ژورتیا لپاره کارول کېږي، په یوازېتوب سره يې کارول نامناسب دي.(هابرماس، ۱۹۷۲). په افغانستان کې زیاترو خلکو د اپیمو کښت په اقتصاد کې ګټې لرلې او لاتراوسه يې هم لري. مګر ډېرو کمو يې دا فرصت ترلاسه کړی، چې د پالیسۍ اړوند بحثونو کې د ګډون له لارې د کومې طبقې استازیتوب وکړي.

هغه ثوک چې د اپیمو کرنه یې د ژوندانه په تامین کې کلیدي عناصر ګڼل کېږي، تر ډېره بریده د اصلي ونډه والو په پرتلې د پالیسۍ موضوع ده او په نښه شوي دي. پردې سربېره، د پالیسۍ ځینو عمده لوبغاړو له افغان حکومت سره د دې موضوع په تړاو په تر ټولو غوره حالت کې په موازي ډول او په تر ټولو ناوړه حالت کې د خپلو اجنډاوو په مخالفت کې عمل کړی دی.

مګر حکومت په خپله هم د خپلو ګټو په تعریف کې شیندلی او نظر يې وېشلی دی. په دې معنا ، چې د اپیمو بازار د عرضې پر اړخ د حکومت پالیسۍ تمرکز له افغانستان د باندې تقاضا په برخه کې ډېر کم مسوولیت منلی او دې کار د اپیمو د تولید لپاره ښه بازار رامنځ ته کړی دی(اولسون، ۲۰۰ ).

زموږ دا راپور له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې هغو قوانینو ، پالیسیو او پروګرامونو ته کتنه کوي او شالید يې بیانوي، چې له ۲۰۰۱زیږدیز کال را په دېخوا يې په افغانستان کې د اپیمو اقتصاد د پدیدې هوارولو هڅه کړې ده. پردې سربېره، هغو ادارو ته هم کتنه کوي او شالید يې بیانوي، چې یاد قوانین، پالیسۍ او پروګرام يې جوړ کړي او پلي کړي دي.

---

۱ https://www.smh.com.au/world/opium-fight-a-huge-waste-of-money-us-envoy-admits-۲۰۰۹۰۳۲۲-۹۵۱l.html (accessed ۲۱ August ۲۰۲۰).

په داسې حال کې چې له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ او قوانين په ملي کچه وضع شوي، مګر د اپيمو توليد تر ډېره بريده په اوو ولايتونو کې ترسره کېږي، چې د هغوی له ډلې په لوېديځ زون کې هلمند ، کندهار ، فراه ، بادغيس او نيمروز ؛ به ختيځ زون کې ننګرهار او په شمال زون کې بدخشان ته اشاره کولای شو.(UNODC, ۲۰۱۲ )

څرنګه چې په دې راپور کې به هم ورته اشاره وشي، له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسيو جوړونې او پلي مشرې د لويو لوبغاړو ترمنځ د هغوی ګټو او دې برخې ته د هغوی د پاملرنې له مخې بدلون کړی. دې کار د لومړيتوبونو او پاليسۍ موخو پر ټاکلو اغېز کړی. پردې سربېره، دغه بدلون په ځينو وختونو کې د يو لړ ملاحظاتو او ګټو له مخې ترسره شوی او داسې ښکاري، چې د افغانستان د اپيمو اقتصاد تر يوې اندازې ناڅاپي خبره وي.٠کين او انډرسن، ۲۰۱۸ ).

د امريکا متحده ايالاتو هڅې، چې د اپيمو کرکيلې پر اړولو او د نشه يي توکو پر له منځه وړلو يې ټينګار کاوه، په ټوله کې د بلواګرۍ ضد د امريکا متحده ايالاتو له تګلارې سره د همغږۍ په لور يې بدلون کړی دی.[۲] بديل پراختيايي پروګرامونو په دې برخه کې ډېر کم رول اداء کړی دی. دا کار په بېړه ترسره شوی، چې د غيرواقعي او ارماني موخو ترلاسه کولو لپاره يې د ستونزې پېچلتيا له پامه غورځولې ده.

د دې پاتې راتلو په زړه کې د ناهمغږو موخو او د امنيت ټينګښت، دولت جوړونې، اپيمو کرنې راکمولو او پراختيا ترمنځ د درې ګونې پاليسۍ د چوړ جاړي هڅه (رودريک، ۲۰۱۱ ) او د دوی له منځه د لومړيتوبونو په ټاکلو کې پاتې راتلل او مديريت ځای لري. دا هغه موضوع ده، چې په وروستۍ برخه کې به ورته راوګرځو.

دا راپور له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د پاليسۍ او حقوقي چوکاټونو تر عمومي ارزونې د مخه په افغانستان کې د پاليسۍ جوړونې شاليد وړاندې کوي. ورپسې دا موارد د پاليسۍ پر اړينو برخو او له نشه يي توکو او امنيت، سولې، روغتيا ، او معيشت سره په اړيکه کې د دوی پر روايتونو په تمرکز په تفصيلي ډول څېړل کېږي. بالاخره په وروستۍ برخه کې هغه اطلاعاتو او شواهدو ته کتنه کوي، چې د پاليسۍ جوړونې او پلي کېدو سره يې مرسته کړې ده.

د راپور پايله په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د ننګونو په تړاو پر پراخ شموله بحث رانغاړل کېږي.

---

۲ Sopko, J. Future U.S. Counternarcotics Efforts in Afghanistan, Testimony Before the Senate Caucus on International Narcotics Control, Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction ( SIGAR), ۱۵ January ۲۰۱۴, https://www.sigar.mil/pdf/testimony/SIGAR-۱۴-۲۱-TY.pdf

# ۲. شالید

## په افغانستان کې پالیسي جوړونه

په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ په تړاو د بحثونو پر بدلون د پوهېدنې لپاره باید هغه پراخه منځپانګه په پام کې ونیول شي، چې له ۲۰۰۱زېږدیز کال راپه دېخوا يې په دې هېواد کې عموماً د پالیسۍ پر جوړونې اغېزې کړې دي. په دې برخه کې د یو شمېر عناصرو په پام کې نیولو ته اړتیا ده، چې په لاندې ډول ورته اشاره کېږي:

لومړی، په خپله د افغان حکومت له لوري د یادې پالیسۍ په جوړولو کې د سیاسي تاریخ ثبات او موخو، د چاپېریال کمښت او سیاسي ابهام دغه راز د اداري ساتنې په ګډون هېڅ وړاندې شرط په پام کې نه دی نیول شوی.(رویي، ۱۹۹۴:۳۵). دې کار د پالیسۍ بهرنیو لوبغاړو ته د پالیسۍ په موخو او ستراتیژیو کې د پراخې لاسوهنې او نفوذ فرصت په لاس ورکړی، چې په تېره بیا دا خبره له نشه يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ په جوړونه کې له ورایه ښکاري.

دویم، د دې ډول پالیسیو او ستراتیژیو تطبیق، د نړیوالو مرستو کچې او د امریکا متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو لګښتونو افغانستان په یوه کرايي هېواد بدل کړی دی.(روبین، ۲۰۰۲؛ شورک، ۲۰۱۱، کلرک، ۲۰۲۰).

کلرک په دې اړه وایي(هماغه اثر: ۲) چې د دې کار اغېز په هغو پلانونو کې ډېر ښکاره دی، چې په بن او اساسي قانون کې د افغانستان اقتصاد، سیاسي ادارو او فرهنګ لپاره له لوړ د ټیټ په لور وضع شوي دي.

یوې مخکینۍ ارزونې (پین، ۲۰۱۲) وښودله چې د متحده ایالاتو د ۲۷۴ میلیاردو امریکايي ډالرو مرستې او پوځي لګښتونو له ډلې، چې په افغانستان کې يې له ۲۰۰۰زېږدیز. څخه تر ۲۰۰۹زېږدیز. کال پورې په پرلپسې توګه لګولي دي؛ یوازې ۹،٦ سلنه يې رسمي پراختیایي مرستې (ODA) وې. نورې ټولې مرستې او لګښتونه په پوځي او امنیتي برخو کې شوي وو.

ددې سربېره، له ۲۰۰۱زېږدیز. څخه را وروسته لسیزه کې د بهرنیو مرستو نږدې ۹۰ سلنه دولتي لګښتونه پوره کړي و. د عوایدو ډېرېدو لهپاره د کورني وړتیا لوړولو ته پوره پاملرنه ونه شوه (بایرډ ، ۲۰۱۵ز.). د بهرنیو بسپنو اندازه له ۲۰۲۰ز. راهیسې د ټولې بودجې له ۵۰ سلنه څخه راکمه شوې ده. (کلارک، ۲۰۲۰: ۹)

پردې سربېره، په لومړیو کلونو کې په تېره بیا د اصلي بسپنهورکوونکو لهلوري کافي کومکونه کېدل چې د حکومتي چینل له لارې نه وو او له دولتي بودجې بهر لګول کېدل.

دریم، د پالیسۍ په ټولو برخو کې پالیسي‌جوړونه د پالیسۍ د شریکانو ترمیځ د سیالۍ او ډلبازیو ډګر و. بایرډ (په ۲۰۰۷ز. کال کې) له ۲۰۰۱زېږدیز را وروسته په افغانستان کې د لوی شمېر بسپنهورکونکو یادونه کړې وه چې لږ تر لږه شپږ هغه يې خورا غوښنه برخه لري.

دې چارې په سکټورونو کې د بسپنهورکوونکو په واسطه لوی درز رامنځ ته کړ، چې د بسپنهورکوونکو د خوښې او میلان په واسطه د ځینو وزیرانو او وزارتونو تمویل دا درز لاپسې لوی کړ (پین او شاه، ۲۰۰۹ز. په کلیوالي سکټور کې د وزارتونو د تمویل د بحث لهپاره راټول شوي مواد.)

له څلورو وزارتونو (ټولګټو چارو، پوهنې، کرنې او حکومت او مدني ټولنې) سره، اتو کلیدي شریکانو ۹۰ سلنه بسپنه مرسته وکړه او ددې ترڅنګ پاتې بودجه ۲۰ یا له هغو ډېره نورو بسپنهورکوونکو تمویل کړه (پین، ۲۰۱۲ز.: ۱۱)

ځلورم، ددغه ډول راتلونکو شوو بسپنو په اړه بسپنه‌ورکوونکو خپلې ګټې او لیدلوري په بېلابېلو برخو کې بیان کړي دي. دا چاره د دې لامل شوې ده چې د بسپنه‌ورکوونکو لەلوري د وزارتونو او ادارو تمویل تاکنیز شي. همدارنګه دا چاره هم تاکنیزه شوې ده چې په جغرافیوي ډول څرنګه بسپنه ځانګړې کړل شي او دا په خپله د پوځي ګټو منعکسوونکې ده.

په همدې ډول، بسپنه‌ورکوونکي ډېری وخت د پالیسۍ جلا ماډلونه او تګلارې لري. ویلډر (۲۰۰۷ز.) د پولیسو د ودې په تړاو د جرمني او متحده ایالاتو په واسطه تمویلېدونکو پروګرامونو لەپاره د جلا کلتوري ماډلونو یادونه کړې وه چې په کې د پولیسو د روزلو او پولیسي ارزښتونو توپیر لەورایه ښکاریده.

پین او شاه (۲۰۰۹ز.) په کرنیزو او کلیوالي پراختیایي سکتورونو کې د لویو بسپنه‌ورکوونکو د پالیسیو توپیرونه موندلي و چې د سیالۍ او د پروګرامونو جلا طرحه کولو او د پایلو جلا ارزولو لامل کېږي.

سالټمرش او میډهي (۲۰۱۱ز.) په سیمه‌ییزه حکومتولۍ کې توپیر موندلی او د ګډو نامناسبو نظریاتو په پیدا کولو هم بریالي شوي وو او ویلي یې و چې سیمه‌ییزه حکومتولي باید د بسپنه‌ورکوونکو او بسپنه‌ورکوونکو او حکومت ترمنځ په کوم حالت کې قرار ولري. دا چاره د عمل په ډګر کې ګډوډۍ رامینځته کوي.

پنځم او وروستی، د اوږدمهاله پالیسیو جوړولو لەپاره یوې عمومي تبصرې ته اړتیا ده ځکه هرډول پالیسیو افغانستان له ۲۰۰۱زیږدیز راهیسې ګډوډ کړی دی. دا پالیسۍ غالباً د بهرنیو شریکانو په واسطه جوړې او حکومتي حاکمیت د ملاتړ د اصلي مهرې په توګه د حکومتي مالکیت لاسته‌راوړلو ته د ډېرې کمې پاملرنې لەمخې لیکل شوي دي.

په دغو پالیسیو کې ډېرې کمې یې داسې دي چې د ځانګړو موخو یا پایلو ترلاسه‌کولو لەپاره په خپل جوړښت کې د پلان، میتود یا یو لړ لارښوونو په اړه ډېر څه لري چې د پالیسۍ په ښه تفسیریدای شي. ډېری پالیسۍ او ستراتیژۍ د ستونزو، عمل، تسلسل او سرچینو ځانګړو کولو په برخه کې د لومړیتوب‌بندۍ مسایل ډېر کم واضح کوي.

آن تردې چې دوی ټاکل شوو موخو په تړاو ممکنه راکړې ورکړې ته هم پام نه کوي (وګورئ: زیبزا او میګوټو، ۲۰۰۷ز. په کرنیز پرمختګ کې د پالیسۍ جوړولو په تړاو). پرځای یې د امرونو او هغو لیستونو د وړاندې‌کولو نیت لري چې د نړیوالو غوره تجربو له اقتباس وروسته ترسره کېدونکي کارونه په ګوته کوي. په پایله کې، د پالیسۍ او د پالیسۍ د پلي‌کولو یا عمل ترمنځ قوي نااړولي یا نه اړیکه په بیا ډول لیدل کېږي.

## په افغانستان کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د پالیسیو جوړول

لکه څرنګه چې به په راتلونکو بحثونو کې هم روښانه شي، په افغانستان کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې پالیسۍ جوړول هم له مختلفو اړخونو څخه، لکه د نورو پالیسو په څېر نیمګړتیاوې او بې اړیکې کیدل لري. لکه څرنګه چې کیین او انډریسن (۲۰۱۸ز.) ورته اشاره کوي، د نشه‌يي توکو او ترهګرۍ نړیوالې پالیسۍ له بهرنیو ګټو سره په ټکر کې دي.

دا ډول پالیسۍ د اړینې لاسته‌راوړنې «بریا» پرځای (چې د نشه‌يي توکو په برخه کې یې په څرګنده نه ده ترلاسه کړې) د پالیسۍ لەپاره مختلفو کچو د ملاتړ راجلبولو د وړتیا (موسې، ۲۰۰۴ز.) له مخې معلومېدای شي.

لکه څرنګه چې کیین او انډریسن (۲۰۱۸ز.) دلته د رواني لوبې په تړاو د لوبو د استعارې په کارولو سره وایي چې لوبې ګټونکي او بایلونکي لري او د نشه‌يي توکو د پالیسیو په لوبه کې هغوی اصلي بایلونکي دي ځوک چې د یادې پالیسۍ برخه نه وي خو بیه یې پرې کوي. دا خلک غالباً د یوه دولت د قلمرو په حاشیو کې موندل کېږي.

په هر حال، دې ته په پام سره چې د اضطراري حالت، پراختیايي او امنیتي برخو د اجنډاوو پالیسۍ لرې ستونزې لري یا لرې ستونزې زېږوي، د اپیمو له اقتصاد څخه راټوکېدونکې پالیسیوي ننګونې خورا ډېرې پېچلې دي.

همدارنګه د بدیلو پراختیايي پروګرامونو، روغتیايي پالیسیو، د کنټرول اړولو یا منع‌کولو او امنیت په اړوند د پالیسیو او عمل کې توپیر لیدل کېږي چې د تیورۍ له مخې د دغو پالیسیو کور د کرنې او کلیوالي پرمختګ، روغتیا، قانون او نظم او امنیت د برخو په وزارتونو کې دی. دا مسایل په څرګنده او له ثبوت پرته ګډې پالیسۍ جوړونې او عمل ته اړتیا لري، خو بیا هم ډېر کم ترسره کېږي.

د پالیسیو نورو برخو په پرتله، له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د پالیسۍ برخه لږ شریکان لري: د ونډې له مخې تر ټولو ستر شریکان متحده ایالات، بریتانیا او افغان حکومت دي، خو د وخت په تېرېدو سره یې تغییر موندلی دی.

نشه‌يي توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UNODC) په لویه کچه د خپل لوی بسپنه‌ورکوونکي، د متحده ایالاتو، اجنډا تعقیبوي او د ځانګړو پالیسیو په اجنډاو کې د مخکښ په توګه لا تر اوسه راڅرګند شوی نه دی.

بل لوري ته، د نړیوال بانک اقدامات، چې د کوکنارو ستونزې ته له پراختیايي اړخه ګوري؛ که څه هم د اصلي شریکانو په پرتله اغېزمن نه بریښي، خو د درک وړ دي.

په تیوریکي لحاظ، د شریکانو دا نږدې حوزه کولی شي چې د تګلارو او لومړیتوبونو په تړاو اجماع ته په اسانۍ ورسېږي. خو لا هم داسې نه دي شوي. د شریکانو او د متحده ایالاتو د حکومت د بېلابېلو څانګو ترمنځ (چې په افغانستان کې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې په پالیسیو کې د اړین شریک په توګه پېژندل کېږي.) په پالیسۍ او عمل کې شدید جلاوالی لیدل کېږي. (سیګار، ۲۰۱۸ز.؛ کیین، ۲۰۱۲ز.)

په لومړیو کې، د ۲۰۰۲ زېږدیز کال په اپریل کې بریتانیې د اته ډلې (G8) او د امنیتي سکټور اصلاحاتو (SSR) په غونډو کې د مسؤلیتونو وېشنې د برخې په توګه له نشه‌يي توکو سره د مبارزې مخکښ رول په خپله غاړه واخیست (سیګار، ۲۰۱۸ز.: ۳۸)[3]. دغه هڅو د پالیسۍ جوړونې په تړاو د نشه‌يي توکو د ولکې لومړنۍ رسمي ستراتیژي (NDCS) په تدوین کې له افغان حکومت سره مستقیماً ښکېل و.

په داسې حال کې چې دا چاره د پالیسیو د انتقال یوه تجربه وه (بیولي-ټایلر، ۲۰۱۴ز.) چې د پالیسۍ بطن (ventriloquism) په توګه هم تعریفېدای شي، خو له افغان حکومت سره یې د ګټورو اجرائیوي فعالیتونو په ترسراوي کې مرسته وکړه.

په هر حال، د بریتانیې حکومت له لوري د بدیلو پراختیايي پروګرامونو او د کوکنارو کنټرول اړونې په چارو کې د مستقیم ګډون لومړنیو هڅو ډېره لږه اغېزه درلوده او په ۲۰۰۴ زېږدیز کال کې، د کوکنارو د کنټرول ډېرېدو پرمهال، متحده ایالاتو خپله ونډه ډېره کړه او د وخت په تېرېدو سره د اړین شریک په توګه راڅرګند شو. د سیګار له لوري د متحده ایالاتو له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د پالیسۍ جوړونې او له ۲۰۰۱ زېږدیز څخه تر ۲۰۱۷ زېږدیز کلونو پورې د شویو اقداماتو له ارزولو څخه په څرګنده ښکاري، چې له نشه‌يي توکو سره د متحده ایالاتو د مبارزې پالیسي، له ستراتیجیکې ناکامۍ او تاکتیکي ناهمغاړۍ‌تو ب سره مخ وه.

دا ناکامي د متحده ایالاتو په څلورو لویو ادارو (د دفاع وزارت «DOD»، د بهرنیو چارو وزارت «DOS»، د امریکا متحده ایالاتو نړیواله پراختیايي اداره «USAID» او نشه‌يي توکو سره د مبارزې اداره «DEA») کې د ګټو او کلتور د اساسي ټکرونو له امله وه. لکه څرنګه چې سیګار (۲۰۱۸ز.: iii) دې پایلې ته رسېدلی و:

---

۳ د امنیتي سکټور اصلاحات (SSR) د بسپنه‌ورکوونکو او افغان دولت دواړو په واسطه د ستراتیجیکې همغږۍ، لاربښوونې او سیاسي توافق له نشتوالي سره مخ دی. (وګورئ: DCAF، ۲۰۱۱ز.)

*له ۲۰۰۵ زیږدیز څخه تر ۲۰۰۸ زیږدیز پورې په هوایي سپرې باندې د متحده ایالاتو ټینګار د متحده ایالاتو او افغانانو اړیکې کړکېچنې او په نورو برخو کې د همکارۍ مانع شوه. بزګرانو ته د کوکنار له کرکېلې څخه د راګرځېدلو په موخه بدیل پراختیایي پروګرامونه غالباً لنډمهاله وو چې د خاشخاشو په ساده بدیل باندې یې ډېره لګوله او ځیني وختونه یې آن د کوکنارو کښت له ډېرېدو سره مرسته کوله. ...*

*له نشه یي توکو سره د مبارزې موخې په لویو امنیتي او پراختیایي ستراتیژیو کې ځای نه کړل شوې، نو ځکه ترلاسه نه شوې.*

د سیګار راپور د متحده ایالاتو په هڅو، د دغو هڅو په همغږۍ او اغېزمنتیا باندې ځانګړې پاملرنه لري. د دغه راپور ارزښت د لګښتونو، پالیسیو او تجربو په استناد او شننه او اغېزمنتیا کې پروت دی، داسې یوه ارزونه ده چې په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسۍ د کوم بل شریک لهلوري نه ده ترسره شوې.

خو دا په ځرګنده د سیګار د څېړنې له موضوع سره بې تړاوه ده چې په عمومي ډول له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسیو څخه ترلاسه شوو زده کړو په اړه پوښتنه وکړي. په حقیقت کې، دا یوه ضمني فرضیه ده چې له نشه یي توکو سره د مبارزې غوره او ډېرې همغږې ستراتیژۍ جوړېدای شي او که چېرې یې تطبیق ښه همغږی شو، نو نومړې پالیسي شریکې او د ترلاسه کېدو وړ موخې ترلاسه کولی شي.

خو د موخو ، د بېلګې په توګه د کوکنارو له منځهوړل او د دغو موخو د ترلاسه کولو د وسایلو اړوند پوښتنې د څېړنې موضوع نه وه. په داسې حال کې چې له نشه یي توکو سره د مبارزې بشپړه پلټنه (چې وروسته ورباندې بحث کېږي) په عمومي ډول د نومړې پالیسۍ د نههمغږۍ او نااغېزمنتیا پراخ شواهد وړاندې کوي، د ۲۰۰۱ زیږدیز کال له پېښو وروسته په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسۍ اړوندو موخو او وسایلو په اړه لویه پوښتنه په وروستي بحث کې راسپړل کېږي.

## د حقوقي او پالیسي چوکاټونو ارزول

له ۲۰۰۰ زیږدیز کال څخه وړاندې او بیا په ۲۰۰۰-۲۰۰۱ زیږدیز کلونو کې د طالبانو لهلوري د کوکنارو کرکېلې د بندولو تروخته پورې، په افغانستان کې د کوکنار کر قانوني و. په هر حال، په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې د طالبانو له پرزیدو سره دا بندیز لرې شو چې نومړي کښت ته خلکو بیا مخه کړه او په لویه کچه وکرل شو.

بالاخره، افغان لنډمهالې ادارې له ۲۰۰۱ زیږدیز راوروسته د کوکنارو د کښت ممنوعیت او د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوي اړوند مختلف فرامین صادر کړل. خو د بریتانیي حکومت او «UNODC» په مرسته د نشه یي توکو د ولکې لومړنۍ ستراتیژي (NDCS) تدوین او یوازې په ۲۰۰۳ زیږدیز کال ولیدل شوه. تر ۲۰۰۸ زیږدیز کال پورې د کوکنارو په کر کې د ۷۰ سلنه کمښت راوستل او تر ۲۰۱۳ زیږدیز کال پورې د کوکنار کر او قاچاق بشپړ له منځهوړل د یاد پلان ټاکل شوې موخې وې.

په داسې حال کې چې د نشه یي توکو د ولکې ستراتیژۍ د ستونزو حوزه ترسیمه او له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسۍ د وسایلو ارزونه یې کړې وه، خو په دې اړه یې هیڅ توضیحات نه درلودل، چې د پالیسۍ کوم ځانګړي وسایل به چېرته ځای پرځای کړل شي او دغه راز د لومړیتوبونو او د ستراتیژۍ د اقداماتو تسلسل اړوند جزئیات یې هم نه لرل.

دا سند بیا دوه کاله وروسته په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې، د تطبیقي پلان ترڅنګ تعدیل شو چې د پالیسۍ د پنځو اصلي برخو (ادارهجوړونه، معیشتي بدیل پروګرامونو، د کوکنارو د کښت ممنوعیت، د قانون تطبیق او جنایي عدالت) په تړاو او دغه راز عامهپوهاوونې، د کښت اړونې او سیمهییزې همکارۍ د پلانونو په اړه یې بشپړ توضیحات لرل.

په هر حال، کله چې په ۲۰۰۲زیږدیز کال کې له نشه یي توکو سره د مبارزې تعدیل شوې ستراتیژي خپره شوه، نو په پالیسۍ کې د ناروا نشه یي توکو په کښت، تولید، قاچاق او استعمالولو کې د پام وړ کمښت د موخې ترلاسه کولو پر لور په ټاکلو اهدافو باندې له ټینګار څخه، د کوکنارو بشپړ له منځه وړلو نظریې ته بدلون راغلی و.

له ۲۰۰۱زیږدیز را وروسته په لومړۍ لسیزه کې، نړیوال بانک د اپیمو په اقتصاد کې پیاوړې سیاسي علاقه واخیسته، دا علاقه یې د اپیمو ذاتي ناروا والي ستونزې پرځای تر ډېره د پراختیایي ستونزې اړوند لیدلوري له امله وه. د نړیوال بانک د یوه چارواکي، ویلیم بایرډ، -چا چې له افغانستان سره د ددې نظریې د ملاتړ لپاره اوږد مهاله اړیکې درلودې – ځانګړې ونډه باید په ځانګړي ډول تایید کړل شي.

نړیوال بانک د پالیسۍ یو شمېر غونډې او مباحث رابللي په تېره بیا د افغانستان د نشه یي توکو اقتصاد جوړښت او اجراآتو (بډینبرګ او بایرډ، ۲۰۰۲ز.)، او دغه راز پراختیایي نوښتونو په اړه یې، چې د اپیمو کښت راکم کړي؛(وارډ او نور، ۲۰۰۸ز.) د یو شمېر اړینو ښتنیزو څېړنو مسؤلیت درلود.

نوموړي تعدیل شوي سند، اصلي مسیر ته د ورګرځوونکې تګلارې له پاره بنسټونه رامنځته کړل چې د نړیوال پرمختګ له پاره د بریتانیې د ادارې (DFID) په واسطه تمویلېدونکی د کرنیز او کلیوالي پرمختګ جامع سهولت (CARD-F) لومړی پړاو یې بنه بېلګه وه.

په هر حال، له ۲۰۱۰زیږدیز وروسته، نړیوال بانک د اپیمو اړوند پالیسیو په بحثونو کې ډېره کمه ونډه درلوده او تردې کچې وه چې په ۲۰۱۴زیږدیز کال کې د کرنیز سکټور د ارزونې په لومړۍ مسوده کې تر ونډې محدوده وه (نړیوال بانک، ۲۰۱۴ز.) او د کرنیزې پراختیا پر لور د پیاوړې بازار ملاتړ یې وکړ، چې په ټولیز ډول په کې د اپیمو اقتصاد په اړه کوم څه نه و ذکر شوي، خو DFID ټینګار کاوه چې باید په کې ځای پرځای کړل شي.

په ۲۰۱۵زیږدیز کال، د افغانستان د نشه یي توکو ملي کاري پلان (۲۰۱۵- ۲۰۱۹) سره، چې د هغه وخت له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت[4] له لورې تدوین شوی و (MCN، ۲۰۱۵)؛ له نشه یي توکو سره د مبارزې اجنډا له ډېرو اړخونو څخه ډېره د پام وړ ګرځېدلې ده. هماغه موخې چې تېرو پالیسیو کې وړاندې شوې وې، لکه د مشروع بدیل وړاندې کول، د کوکنارو ټاکل شوی کښت اړول، د نشه یي توکو سوداګرۍ ګډوډول، د پیسو مینځلو سره د مبارزې او نورو قوانینو پلي کول او د تقاضا راکمول، ټولې بیا په کې ذکر شوې وې.

یوځل بیا بېنچمارکونه جوړ شول، چې په کې د خاشخاشو کمولو، کوکنارو کښت اړولو، د کښت ممنوعیت او تقاضا راکمولو اړوند ترلاسه کېدونکو موخو په اړه کوم څرګند دلیل یا توجیه نه لیدل کېده. همدا رنګه د تېرې لسیزې د موخو ترلاسه کولو له پاره د هماغو پالیسیو او اقداماتو د لوړې کچې ریکارډ ته په نه پاملرنې سره یې، په دې اړه هم جزئیات نه درلودل چې د تېرو تجربو بیا تکرار ول به هغه پایلې ترلاسه کړي د کومو په اړه چې مخکې پاتې راغلي و.

د ۲۰۰۳زیږدیز او ۲۰۱۸زیږدیز کلونو ترمنځ د افغان حکومت له لوري په پرلپسې ډول پالیسۍ او قوانین تدوین شول. (لومړی جدول)

۴ دا وزارت د ۲۰۱۹ز. کال په وروستیو کې ړنګ او په کورنیو چارو وزارت کې مدغم کړل شو.

**لومړی جدول له نشه‌يي توکو سره د مبارزې په برخه کې اړينې حکومتي پالیسۍ او قوانين**

| له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د افغان حکومت پالیسۍ او قوانين | | |
|---|---|---|
| د بريتانيې په مرسته | د نشه يي توکو د ولکې ملي ستراتيژي (NDCS) | ۲۰۰۳ |
| اوومه ماده د نشه يي توکو د ټولو ډولونو د کښت او توليد د مخنيوي په برخه کې د حکومت پر رول باندې بحث کوي. | د افغانستان اساسي قانون | ۲۰۰۴ |
| د بريتانيې په مرسته | د نشه يي توکو د ولکې ملي ستراتيژۍ تطبيقي پلان | ۲۰۰۵ |
| د بريتانيې په ملاتړ تدوين شوی او له نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي مرکز (CNJC) له‌پاره يې حقوقي بنسټ رامنځته کړ. په ۲۰۱۰زيږديز کال کې د کوکنار د کښت مخ په ډېرېدونکې کچې سره د مبارزې له‌پاره او بيا ځل په ۲۰۱۸زيږديز کال کې د ميتامفيتامين په څېر مصنوعي نشه يي توکو سره د مبارزې له‌پاره تعديل شو. د قانون له مخې محکومينو ته شديد مجازات په تدريجي ډول ډېر شوي و. | د افغانستان له نشه يي توکو سره مبارزې قانون<br>(په ۲۰۱۰ز. او ۲۰۱۸ز. کال کې تعديل شوی) | ۲۰۰۵ |
| د بريتانيې په مرسته | د نشه يي توکو د ولکې ملي ستراتيژي تعديل | ۲۰۰۶ |
| د اړينو وزارتونو په مرسته، له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت (MCN) له‌لوري پرمخ وړل کېدونکې پاليسي ده چې موخه يې د لومړيتوبونو ملي پروګرامونو (NPPs) کې له نشه يي توکو سره د مبارزې شاملول و. | د معيشتي بديل ملي پاليسي (۲۰۱۲ – ۲۰۲۴) | ۲۰۱۲ |
| د اړينو وزارتونو په مرسته له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت له‌لوري تدوين شوی چې موخه يې د کوکنارو د کښت راکمول، په کوکنارو ککړو ګوليو د توليد او قاچاق راکمول او د تقاضا راکمول او د بسپنه‌ورکوونکو د مرستو ترلاسه‌کول دي. | د نشه‌ای توکو ملي کاري پلان (۲۰۱۵- ۲۰۱۹) | ۲۰۱۵ |
| د ۲۰۱۸زيږديز کال قانون له نشه يي توکو سره د اړوند جرمونو له‌پاره لوړ مجازات او د توکو مصادره په پام کې نيولې ده. | جزا کوډ (د ۱۹۷۶زيږديز جزا قانون څخه تدوين شوی) | ۲۰۱۸ |
| په ۲۰۱۲زيږديز کال کې د پاليسۍ تعديل شوې او بياکتل شوې بڼه لا تراوسه تصويب شوې نه ده. | نشه يي توکو ته د تقاضا راکمولو ملي پاليسي (۲۰۱۹-۲۰۱۳) | ۲۰۱۹ |
| په ۲۰۱۲زيږديز کال کې د پاليسۍ تعديل شوې او بياکتل شوې بڼه لا تراوسه تصويب شوې نه ده. | د معيشتي بدلون ملي پاليسي ((۲۰۱۹- ۲۰۲۳) | ۲۰۱۹ |

له نشه يي توکو سره د مبارزې قوانينو ته په کتو، دغو قوانينو په تدريجي ډول سخت مجازات ټاکلي دي. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۵زيږديز کال قانون، د نشه يي توکو قاچاقکوونکو له‌پاره يوازې نقدي مجازات ټاکلي و، د ۲۰۱۰زيږديز کال قانون بيا د همدغو جرمونو له‌پاره د حبس مجازات وټاکل. د ۲۰۱۸زيږديز کال نوي قانون بيا د ۲۰۱۰زيږديز کال له مجازاتو هم د حبس سخت مجازات وټاکل خو اغېز يې لږ و. (ژليکا «Bjelica»، ۲۰۱۸ز.)

په ۲۰۱۸ - ۲۰۱۹زیږدیز کلونو کې، له نشه يي توکو سره د مبارزې عدلي مرکز خبر ورکړی و چې د نشه يي توکو د قاچاق په تور شاوخوا ۱۰۰۰ تورن کسان له يوه نيم څخه تر ۲۱ کلونو پورې د حبس په جزا محکوم شول. په هر حال، قانون يوازې د نشه يي توکو په کوچنيو کاروباريانو باندې پلی کېږي او لويو قاچاقچيانو او زورورو کسانو ته، چې له حکومت سره په اړيکه کې دي؛ لاس نه ور وړل کېږي.[5]

دا ډول ډېرېدونکو جزايي يا تنبيهي اقداماتو د تنبيه‌کوونکو يا مخنيوي‌کوونکو اعمالو په توګه اندېښنې راپارولي او د اپيمو (کوچنی کچې) سوداګرو سره د چلند په اړه يې د لاډېرو انساني تګلارو قبلولو پوښتنه راپورته کړې.

له نشه يي توکو سره د مبارزې قوانين هم په پام وړ ډول بې اغېزې دي. د ۲۰۰۸زیږدیز څخه د ۲۰۱۷ تر جون مياشتې پورې، د سيګار[۲] په وينا، متحده ايالاتو د کوکنارو د کښت د مخنيوي له ۳۴۰۰ عملياتو سره مرسته وکړه چې پايله يې د ۴۵۲،۷۷ کيلوګرام اپيمو ضبطول و او دا اندازه يوازې په ۲۰۱۲زیږدیز کال په افغانستان کې د توليد شوو اپيمو له يو سلنه څخه هم کمه ده. همدارنګه دوی د نشه يي توکو د قاچاق ولکې له پياوړي کولو سره هم ښايي مرسته کړې وي. (ژلېکار، جی، ۲۰۲۰ز).

تر ۲۰۰۴زیږدیز کال پورې، متحده ايالات، له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د برېتانيې په مخکښې ونډې باندې راضي و. په هر حال، په ۲۰۰۴زیږدیز کال کې د کوکنارو په کښت کې له چټک ډېرښت سره، د متحده ايالاتو دريځ بدل شو چې دليل يې تر يوې کچې له نشه يي توکو سره د برېتانيې د نرم چلند په اړه د ناخوالو زېږولو له امله و.

له نشه يي توکو سره د افغان حکومت پاليسيو سره موازې، متحده ايالاتو، افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې له‌پاره خپلې جلا پاليسۍ تدوين کړې (دوهم جدول وګورئ). په داسې حال کې چې ويل کېدل دا پاليسۍ د افغان حکومت له پاليسيو سره مطابقت لري او هغوی منعکسوي، په عمل کې لکه څرنګه چې د سيګار (۲۰۱۸ز.) پلټنو روښانه کړه، په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د امريکايانو مرستندويه فعاليتونو د متحده ايالاتو د پاليسيو لارښوونې په اړين ډول تعقيب نه کړې، پاتې خو لا د افغان حکومت پاليسۍ شوې.

د متحده ايالاتو دريځ تر ډېره پوځي و او د موازي جوړښتونو تأسيس او د خصوصي قرارداديانو په تېره بيا د کوکنارو د کښت اړولو له‌پاره د ډاينکارپس (Dyncorps) جلب او جذب، له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د افغان حکومت د مالکيت راټيټولو لامل وګرځېد.

له ۲۰۰۵ نه تر ۲۰۰۹زیږدیز کلونو ترمنځ په اجنډا کې د هوايي کيمياوي سپری شاملولو په ګډون، په ځانګړي ډول، د کوکنارو کښت اړولو باندې د امريکايانو زيات ټينګار، د متحده ايالاتو د نورو حکومتي ادارو له‌لوري ملاتړ نه شو او دا چاره په پاليسيو کې د چاود (درز) او خپلمنځي سيالۍ لامل شوه.

۵ له يوه لوړپوړي پخواني رسمي افغان چارواکي سره مرکه، د اګست اتمه، ۲۰۱۹ز. کابل.

۲ د متحده ايالاتو ولسي‌جرګې (کانګرس) ته د سيګار درې‌مياشتنی راپور. د اکتوبر ۳۰، ۲۰۰۲ز. (لاسرسی: د فبرورۍ ۱۵، ۲۰۲۰ز.) https://www.ecoi.net/en/file/local/۱۴۱۹۴۳۴/۱۹۳۰_۱۵۱۲۲۴۰۳۵۱_۲۰۱۷-۱۰-۳۰qr.pdf

همدارنګه، دغو پالیسیو د افغان حکومت له پالیسیو سره سمون نه خوړ. لکه څرنګه چې مخکینی نقل قول یې روښانه کوي، په هوايي کیمیاوي سپرې باندې ټینګار د متحده ایالاتو او افغانانو اړیکې کړکېچنې کړې او له نشه یي توکو سره د مبارزه کوونکو نورو ښکېلو لوریو سره اړیکې یې هم شړلې کړې. داسې ښکاري چې د افغان حکومت له لوري پیاوړي فشار د پالیسیو له ناکامۍ سره مرسته کړې وي.

په دې سره، له نشه یي توکو سره د مبارزې پر لومړیتوب باندې د متحده ایالاتو پوځي تمرکز ترڅنګ، د زړونو او ذهنونو پر خپلولو باندې د دوی ټینګار د نشه یي توکو د کښت اړول اصلي ستونزه وګرځېده او بالاخره له لومړیتوب څخه وغورځېده.

**دویم جدول: له نشه یي توکو سره د مبارزې له پاره د متحده ایالاتو ستراتیژۍ**

| له نشه یي توکو سره د مبارزې له پاره د متحده ایالاتو ستراتیژۍ | |
|---|---|
| د کوکنارو د کښت په اړولو باندې له ډېر ټینګار سره؛ د کښت اړول/له مینځه وړل، کښت ممنوع کول، عدلي اصلاحات، عامه پوهاوی او معیشتي بدیل پروګرامونه پنځه ستنې دي. | ۲۰۰۵ |
| د معیشتي بدیل پروګرام د ډېر تمویل ترڅنګ، د کوکنارو کښت ممنوع کولو او اړولو باندې په ډېر ټینګار تمرکز کول. | ۲۰۰۷ |
| د نشه یي توکو او ترهګرۍ ترمنځ اړیکو په روښانه کولو او له ترهګرۍ سره د مبارزې په لید لوري کې د افغان حکومت له نشه یي توکو سره د مبارزې او ولکې د چارو په پراخو اجراآتو باندې د تمرکز ترڅنګ د کوکنارو د لویې کچې د کښت اړولو د تمویل درول. | ۲۰۱۰ |
| د افغانستان د نشه یي توکو د ولکې ملي ستراتیژي او نورو ادارو ملاتړ او د نشه یي توکو او ترهګرۍ د اړیکو په نښه کولو ته ژمنتیا | ۲۰۱۲ |

# ۳. اداري جوړښتونه

موازي او په اغېزمن ډول سياله پاليسي جوړونه د پرتلنې وړ مګر متضادو اداري جوړښتونو کې منعکسه شوې ده. په ۲۰۰۷ زېږدېز کال کې د نړيوال انستيتيوټ مشاهدې (TNI، ۲۰۰۷ز.: ۱۲) هغه ځانګړې کړل چې باید وڅارل شي:

> *په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې د ادارو جوړښتونه پېچلي دي. په دغه هېواد کې بې‌شمېره اداري سره ښکېلي دي، چې ځينې وختونه د مسؤليتونو تداخل رامنځته کېږي. دا چاره په افغان حکومت دغه راز نړيواله ټولنه کې په افغانستان کې د نشه يي توکو سره د مبارزې اړوند سيالي ښيي.*

د برېتانيې په مرسته، د افغانستان ملي امنيت شورا تر چتر لاندې له نشه يي توکو سره د مبارزې رياست (CND) تأسيس شو او د ستراتيژۍ جوړولو، همغږۍ او څارنې مسؤليت يې درلود.

مختلف اجرائيوي مسؤليتونه د کورنيو چارو وزارت؛ د کليو پراختيا او بيارغونې وزارت؛ د کرنې، اوبه‌لګولو او مالدارۍ وزارت او عامې روغتيا وزارت په غاړه دي. په هر حال، د دغو اړينو وزارتونو سياليو، له هماغه وخته، له نشه يي توکو سره مبارزه ځانګړې کړې او له نشه يي توکو سره د مبارزې د ليدلورې جوته مميزه ده.

د متحده ايالاتو لەلورې په ۲۰۰۴ زېږدېز کال کې د برېتانيې په هڅو باندې نيوکې او له نشه يي توکو سره د مبارزې تمويل ددې لامل شول چې برېتانيا د نشه يي توکو سره د مبارزې په وزارت (MCN) باندې د نشه‌يي توکو سره د مبارزې رياست (CND) د بدلولو ټينګار وکړي ترڅو له افغان دولت سره د نشه‌يي توکو سره د مبارزې د ټولو فعاليتونو په همغږۍکولو کې مرسته وکړي. خو دغه وزارت کوم اجرائيوي مأموريت ترسره نشواى کړاى او په خپل دوران کې په سياسي لحاظ يو کمزورى وزارت پاتې شو. بالاخره ياد وزارت په پاى کې منحل شو.

همدارنګه، د برېتانيې حکومت اړينو اجرائيوي وزارتونو ته د نشه يي توکو پرضد د مبارزوې چارو لەپاره د بسپنو ډېرولو او تنظيمولو په موخه له نشه‌اى توکو سره د مبارزې وجهي صندوق (CNTF) هم جوړ کړ. دا صندوق د ملګرو ملتونو لەلورې اداره کېده خو د متحده ايالاتو ملاتړ يې ترلاسه نه کړ او د بسپنې د لګښت په برخه کې د ټيټ ريکارډ لەامله په ۲۰۰۹ زېږدېز کال کې منحل شو.

ددې اپوټه (برعکس)، د کورنيو چارو څواکمن وزارت نشه يي توکو سره د مبارزې لەپاره ځانګړې مرستيال درلود، چې د متحده ايالاتو تر اغېز لاندې و او له نشه يي توکو سره د مبارزې د پاليسيو په اجراآکولو کې يې مخکښ رول درلود.

لکه څرنګه چې (۲۰۱۸: ۴۲) سيګار يې په لنډ ډول بيانوي، د افغانستان او د متحده ايالاتو ډېر شمېر اداري او پروګرامونه له ۲۰۰۱ نه تر ۲۰۱۸ زېږدېز کلونو ترمنځ رامنځته شول. له ناچارۍ، دا چاره د دوه‌ګونې‌توب او په فعاليتونو کې د افراط او د غښتلې سيالۍ لامل شوه، خو د وخت په تېرېدو سره ځينې اداري منحل او ځينې يې په يو او بل کې جذب شوې.

دلته ددغه تعجبي هېواد په اداري لړۍ (او مخففاتو) کې يو ډول د ګډوډۍ حالت ليدل کېږي[7] او د حيرانتيا خبره نه ده چې ځوک، چېرته او څه کوي او دا حالت دې همداسې ستونزمن و ساتل شي.[8] د افغان حکومت په تړاو، سيګار ۱۳ اداري ثبت کړې دي چې په کې د مستقيم تعقيب ځانګړې اداره، د تخنيکي پلټنو اداره، د حساسو پلټنو اداره، د کوکنارو د کښت ممنوعيت ملي اداره او د جنايي عدالت ځانګړې اداره شامله وه.

---

۷ د ناوړه معلوماتو او بې‌تمايلۍ حالت

۸ د افغانستان د اداري فساد ضد ادارو سربدلوونکې شمېر له مخې يوه بله کتنه هم شوې ده. ژليکا، جی. (۲۰۱۹)

د متحده ایالاتو/نړیوالو همکارانو په تړاو، تر ټولو ډېرې مشهورې ادارې یې د کوکنارو د کښت اړولو افغان ځواک، د افغان مالي ګوابښ خونه، د خاشخاش اړولو مرکزي ځواک، مشترکه بین‌الاداري ځانګړې اداره، د بین‌الاداري عملیاتو د همغږۍ مرکز، د نشه‌ای توکو ګډ تحلیلي مرکز او د خاشخاشو د کښت اړولو ځواک و.

سیګار د ادارو جوړولو په اړه د متحده ایالاتو د هڅو په تړاو ویل: (سیګار، ۲۰۱۸ز.: ۱۳۸)

*له نشه یي توکو سره د مبارزې په ریاست او وروسته له نشه یي توکو سره د مبارزې په وزارت کې د اداري وړتیاوو لوړول یو څو محسوس پرمختګونه درلودل....*

*له ریاست څخه وزارت ته ارتقاء، له نشه‌یي توکو سره د مبارزې اړوند پالیسیو او پروګرامونو مسؤلیت لرونکی ځانګړی بیوروکراټیک بنسټ رامنځته کړ، چې د افغانستان د ملي امنیت شورا څخه یې مسؤلیتونه راکم او پراخ بنسټیز حکومت ملاتړ په ترلاسه‌کولو کې پاتې راغی. دا غلطي له هغه حقیقت سره مل وه چې متحده ایالاتو، بریتانیې او له نشه‌یي توکو سره د مبارزې وزارت نور اصلي شریکان، او UNODC د دغه وزارت له‌پاره په یوه لیدلوري سره سلا نه شول چې له نشه یي توکو سره د مبارزې یوه عمومي ستراتیژي ولري...*

*دا ناشونې ده چې له نشه‌یي توکو سره د مبارزې وزارت په څېر کوچنی همغږي‌کوونکی وزارت دې، چې له نشه یي توکو سره د مبارزې په نورو مسؤلو وزارتونو باندې کوم صلاحیت هم ونه لري او ډېر لږ سیاسي نفوذ دې ولري؛ د ټول دولت په کچه له نشه یي توکو سره د مبارزې په هڅو کې مخکښه ونډه ولوبوي.*

*له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت له جوړېدو لږ مخکې له نشه یي توکو سره د مبارزې قانون د تطبیق د چارو څارنې او همغږۍ له‌پاره په کورنیو چارو وزارت کې د نشه یي توکو سره د مبارزې د مرستیال وزیر ټاکل یوازې له نشه یي توکو سره د مبارزې پر وزارت باندې د اغېز له‌پاره د اداري محدودیتونو پیلیز لاربښود یز ګام و.*

ددې د مشاهدې یوه بله لاره به د اقتصادي ګټو او منفعتونو له‌پاره د افغان مخکښو سیاسي څېرو د سیالیو پېژندلو په تړاو د کیین او انډرسن (۲۰۱۸ز.) د استدلالونو تعقیبول وي چې له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسیو او د دوی د تمویلوونکو په بحثونو کې د ونډې اخیستو څخه ترلاسه کېدای شي.

# ۴. د پالیسۍ اجراء کول

د «NDCS» (د نشه يي توکو د کنټرول يوه غوره ستراتيژي خو له نشه يي توکو سره د مبارزې د برخې مات او ګوډ فعاليتونو ) د پرمختګونو په اړه په ۲۰۰۷زيږديز په يوه ارزونه کې وړاندوينه شوې وه چې په راتلونکې لسيزه کې څه پېښېدونکي دي.

لکه څرنګه چې د معيشتي بديل ملي پالیسۍ (MCN، ۲۰۱۴: ۲) اووه کاله وروسته ووېل، له يوه لوري د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ادارو ترمنځ نه‌همغږي او بل لوري ته د بسپنه‌ورکوونکو ادارو، نړيوالو پراختيايي مؤسسو او غيردولتي مؤسسو ونډه او له بودجې بغير بسپنې تر نن تاريخ پورې د اجراء شوو پروژو او د معيشتي بديلو پروګرامونو د نااغېزناکۍ اصلي فکتورونه په ګوته شوي دي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې د متوازنو او واحدو ستراتيژيو لپاره له نشه يي توکو سره د مبارزې د پاليسيو په اسنادو او امريکايي ستراتيژيو کې ډېر څه ځای پرځای کړل شول. د ۲۰۰۷زيږديز کال د نشه يي توکو د ولکې ستراتيژي (GIAoA: ۲۰۰۷: ۱۲) د نشه يي توکو ستونزې په اړه د روښانه او سيستماتيکې تګلارې په اړه بحث کوي. دا تګلاره هغه فعاليتونه توضيح کوي چې د جلا فعاليت پرځای په پرلپسې ډول دوام ولري او له نشه يي توکو سره د مبارزې د ستراتيژۍ د ملاتړ لپاره د ثابتو ادارو جوړولو اړتيا روښانه کوي.

هڅه کېده چې لومړی د نشه يي توکو سوداګري مختله، دويم قانوني کليوالي معيشتونه غښتلي او متنوع کړي، درېيم قدم کې تقاضا راکمه او څلورم قدم کې د دولتي بنسټونو د جوړولو لومړيتوبونه په نظر کې نيول شوي و.

په ورته وخت کې، په داسې حال کې چې د نشه يي توکو د کنټرول له ملي ستراتيژۍ سره يې په خيالي ډول سمون درلود، عملاً د متحده ايالاتو ستزاتيژۍ په معيشتي بديلونو باندې د کښت اړولو ته لومړيتوب ورکاوه، له همدې امله يې د نشه يي توکو د ولکې په ملي ستراتيژۍ کې د کوکنارو کرکېلې له نه‌اړولو اصل سره د معيشتي پروګرامونو د جريان تر وخته مخالفت کاوه. ددې سربېره، لکه څرنګه چې به يې موږ ووينو، د متحده ايالاتو د معيشتي بديلو پروګرامونه د لنډمهاله بديل فصل په برخه کې په اريانوونکي ډول په ښه حالت کې و او ترڅنګ يې معيشتي بديلو پروګرامونو د پراخ ضمني ملاتړ په تړاو کومه عقيده موجوده نه وه.

په هر حال، د سيګار راپور (سيګار: ۲۰۱۸: ۱۴۱- ۱۵۹) د بودجوي ډيټا او «GIS» شننې څخه په استفادې آن د متحده ايالاتو له نشه يي توکو سره مبارزې په ستراتيژيو کې وموندله چې عملاً له نشه‌يي توکو سره د مبارزې د بېلابېلو څانګو ترمنځ تعادل او همغاړيتوب (symbiosis) ډېر کم رامنځته شوی دی. له نشه يي توکو سره د متحده ايالاتو د مبارزې هڅې دې تر هغې کچې، چې د شته ډيټا شننې يې اجازه ورکوي؛ د دواړو هلمند او ننګرهار ولايتونو په هغو سيمو کې ترسره شي چېرته چې معيشتي بديلې مرستې نه دي ترسره شوې.

د معيشتي بدلون فعاليتونه تر ډېره ددغو دوو ولايتونو په هغو سيمو کې ترسره شوي چې نسبتاً بډايه سرچينې په کې وې، په داسې حال کې چې هلته د اپيمو په کښت باندې ډېره کمه تکيه کېده.

په داسې حال کې چې ښايي کوم کس له مناسب اطمينان سره وو ايي چې د نشه يي توکو سره د مبارزې پراخ مرستندويه فعاليتونه پولې ته په ځېرمه کوکنارو کښت لرونکو ولايتونو باندې متمرکز و – لکه د هلمند خوراکي زون يا په ننګرهار کې له ترهګرۍ سره د مبارزې د ملاتړ په ځېر پروژې- خو په دې تړاو کومې ځانګړې شمېرې نشته.

په عمومي ډول د بسپنو د ټاکنې په تړاو شواهد شته، چې د ډېرو امن سيمو په پرتله د ډېرو ناامنه ولايتونو خلکو د سړي سر پراخې مرستې ترلاسه کړې دي. خو دا مرستې د پوځي ډلو له اړخه د بېلابېلو پراختيايي مصارفو په واسطه ګډوډې شوي دي. (پين، ۲۰۱۲: ۱۱)

د شمال افغانان په سويل کې د بسپنه‌ورکوونکو له پراخو مرستو څخه خبر دي چې هلته ناامني او اپيم دواړه په پراخه کچه شته او وايي چې دوی د مرستو راجلبولو له‌پاره بايد د کوکنارو کښت ته مخه کړي. (پين، ۲۰۱۱ز.)

د نړيوال بانک يوې څېړنې (۲۰۱۵ز.) له دغې انګېرنې سره سمون درلود او موندلې يې وه چې د ډېرو تاوتريخوالي لرونکو ۱۲ ولايتونو ، په اساسي ډول جنوبي ولايتونو (له ننګرهار پرته، ځکه دا ولايت د لږ تاوتريخوالي لرونکی بريښېده)، د لږ تاوتريخوالي لرونکو ولايتونو په نسبت ډېره نړيواله مرسته ترلاسه کړه، خو بيا يې هم د دغو ولايتونو په بېوزلۍ باندې يې ډېر لږ اغېز ښندلی دی.

# ۵.  د پالیسۍ د برخو، ښکېلو لوریو، بهیرونو او د روایتونو شننه

لاندې برخې، له نشه یي توکو سره د مبارزې په اصلي برخو کې له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسیو او تجربو د تدریجي تکامل بشپړ تفصیل وړاندې کوي: د نشه یي توکو او امنیت ترمنځ اړیکې؛ سوله راوستل؛ روغتیا او معیشتي پروګرامونه؛ او د پالیسیو د موخو او تجربو د توجیه لپاره د کارول شوو شواهدو او ډېټا د څرنګوالي اړوند بحثونه.

د پالیسۍ جوړونې د مختلفو عواملو ترمنځ د ماتې او وېش په سر کې هغه که د افغانستان په دولت کې و، د نړیوالو ښکېلو لوریو ترمنځ و یا د ځانګړو دولتو د بېلابېلو څانګو ترمینځ و، د کوکنارو او خاشخاشو د ستونزې د ایجاد په اړه بېلابېل تفسیرونه او تحلیلونه موجود و او دا پوښتنه مطرح کېده چې دا ښنه ده او که د ننګونو علت چې افغانستان ورسره مخ دی.

همدارنګه د انفرادي او اداري انتخابونو د جواز د میزان یا تشکیلېدو اړوند بېلابېلې انګېرنې موجودې وې او دغه راز کوم عوامل یا انګېزې دي چې د خلکو او ادارو د سلوکي تغییر لامل کېږي ترڅو په جلا جلا ډول کارونه ترسره کړي.

له وړاندې پېلېدونکي او غالباً مخکې ټاکل‌شوي نقطې څخه د تاریاکو په تړاو د پالیسیو بېلابېلو شریکانو خپل دریځ څرګند کړی دی چې ستونزه څه ده او د دغې ستونزې د هوارولو لپاره کوم اړین وسایل په کار دي. د پالیسیو اجراء کول د افغانستان له اداري لارو چارو سره تعامل ته اړتیا لري، دغه راز ایډیال تفکر ته هم اړتیا لري چې څه باید وي، خو په عمل کې د چارو د څرنګوالي او ولېوالي اړوند لږ پاملرنه یا لږ معلومات په لاس کې دي. (جیکسن او مینویا، ۲۰۱۸ز.)

د دا ډول تګلارې یوه بېلګه د اپیمو اقتصاد لپاره، د نړیوالو نشه یي توکو او قانون د تطبیق د چارو لپاره د متحده ایالاتو دفتر (INL) دی. د INL له انده، د کوکنارو کښت غیر قانوني عمل دی او د حاصل رسېدو پرمهال ورسره چلند کېږي او د کوکنارو د کروندو اړوند ګواښ ړېدو پرمهال، د کروندو د اړولو لپاره له مینځه وړل کېږي.

د INL اصلي موخه د کوکنارو د ۲۵ سلنه کروندو اړول و، چې دا یوه خیالي موخه وه او ټینګار دا و چې دا یو اړین کار (tipping point) دی ځکه په دې سره به د کوکنارو کروندګرو ته اوښتي زیانونه ډېر لوړ وي او دوی به نباید د کوکنار کښت بند کړي. دې چارې افغان کروندګرو ته ورپېښ چاپیریالي ګواښ، ددغه ګواښ د مدیریت په تړاو د تاریاکو د کښت ونډه او د بزګرانو د چلند په کابو کولو کې د مالي هڅونو د اندازې اړوند ډېر کم معلومات نه ول. (مینزفیلډ او پین، ۲۰۰۷ز.)

د INL لوی‌ه ټاکنه د هوایي سپرې کارول و چې افغان دولت ونه مانه (نه نور شریکان ددغې تګلارې ملاتړي و)، هغوی یې لاسي ډول (په لاس) د کښت اړولو باندې مجبورول چې ورورسته بیا د ځایي سیاست موضوع وګرځېده او زورواکانو ته یې د خپلو سیالانو د کښت اړولو د مشرۍ اجازه ورکوله. په ورته وخت کې، د متحده ایالاتو ځواکونو له پیاوړو ځایي شریکانو سره، چې د اپیمو اقتصاد کې یې مادي ګټې درلودې؛ خپلې امنیتي اجنډاوې تعقیبولې.

دا چاره په فعال ډول د INL د تعدیلي ماډل د تغییر لامل شوه. له همدې امله، د متحده ایالاتو پوځ تر ډېره وخته د کوکنارو کښت اړولو اجنډا د ملاتړ په خاطر، د کښت اړولو لپاره د اړینو متبادلو لارو په وړاندېزولو باندې ټینګار کاوه.

په اداري کچه، له نشه یي توکو سره د مبارزې ډېری پالیسیو د بې‌طرفه، استعداد-بنسټه (شایسته‌سالاره) او ډیموکراټیکو نظریو په تړاو، چې څرنګه باید حکومت کار وکړي؛ فرضیې وړاندې کولې. دې کار له عامه ساحې څخه د خصوصي ساحې یا رسمي حوزې څخه د خصوصي هغې د بېلولو اړوند د ویبریانو (Weberian) مطلوب ماډل په نظر کې نیوه.

لکه څرنګه چې سیګار (۲۰۱۸ز.) په بشپړ ډول ورته اشاره کوي، دا د هغه حقیقت سره سره دی چې د نشه یي توکو نړیواله پالیسي جوړول داسې دي لکه تر ډېره د غیررسمي ادارو له لوري چې جوړ شوي وي او د اشرافو سوداګریزې پروسې داسې دي لکه د رسمي ادارو او د پالیسیو د سندونو له لوري چې جوړې شوې وي (کیین او انډریسن وګوریځ، ۲۰۱۸ز.)

د افغانستان ټولنیز نظم ډول، د جیکسن او مینویا (۲۰۱۸ز.) له لوري د «لاسرسي د شبکو» په نوم نومول شوي ماډل پربنسټ د انګېزو او رفتاري روشونو په جلا ټولګه باندې کار کوي. غیر رسمي عوامل په رسمي او ځواکمنو شریکانو کې نفوذ کوي او د خپلو شبکو د ملاتړ او خپل موقعیت د ساتلو لپاره د اقتصادي رانټونو (اضافي عاید) په ترلاسه کولو او بیا وېشلو کې له دغو ساحو څخه تېرېږي.

د اپیمو لهلوري دې احتمال ته په پام سره چې مهم عاید او د لاسرسي غبنتلي شبکې تولیدوي، دا د حیرانتیا وړ نه ده چې له نشه یي توکو سره د مبارزې د پالیسیو موخو (د موخو تمرکز د کار په څرنګوالي و) په حقیقت کې هماغه کړنې غبنتلې کړې دي د کومو چې له منځه وړلو فکر کېده.

د غیررسمي افغان سیاسي شبکو د «لوبولو» لپاره د بهرنیو شریکانو د وړتیا د محدودیتونو یوه ښه بېلګه د بریتانیې فشار و چې په ۲۰۰۵زېږدیز کال کې د هلمند پخواني والي، شیرمحمد اخوندزاده د لرې کېدو لامل شو. له ولایت سره د هغه قوي اړیکې او د طالبانو ولکې ولسمشر کرزي ته ارزښتمن و، خو د هغه په اړه عمومي لیدلوری داسې و چې نوموړي د هلمند د اپیمو له اقتصاد سره اړیکې درلودې.

بریتانویانو د ۲۰۰۷زېږدیزکال په جنوری کې د هغه د ځایناستي، محمد داود، د ټاکلو ملاتړ وکړ چې پاک ښکارېده، خو هغه ځایي اړیکې نه درلودې او یوازې له یو کال دندې وروسته، د پخواني والي د پلویانو د فشار له امله، چې غوښتل یې بیا پخوانی کس والي کړي؛[9] ولسمشر کرزي محمد داود لرې کړي.[10]

## نشه یي توکي او امنیت

لکه څرنګه چې (په لومړي لمنلیک «فوټنوټ» کې) ذکر شول، له نشه یي توکو سره د متحده ایالاتو د مبارزې پالیسۍ د کوکنارو د کښت اړولو او ممنوع اعلانولو له لومړیتوب څخه تر داسې پالیسۍ پورې تدریجي تکامل کړی دی چې له ترهګرۍ سره د متحده ایالاتو له ټولیزې ستراتیژۍ سره همغاړې وه. دا له نشه یي توکو سره د متحده ایالاتو د ستراتیژیو له ارزونې بیخي د لمر په څېر څرګنده ده چې په ۲۰۰۷زېږدیز کال کې پیل شو ترڅو د نشه یي توکو او ترهګرۍ ضد مبارزې د پلانونو په همغږې‌کولو باندې تمرکز وکړي؛ دا په ۲۰۱۰زېږدیز کال کې له نشه یي توکو سره د متحده ایالاتو ستراتیژۍ ترڅنګ یو بل لومړیتوب وګرځېد.

په هغې فرضیې یې ډېره لګوله چې وایي د نشه یي توکو د سوداګرۍ پیسې د ترهګرۍ اړینه سرچینه ده. د کوکنارو او ترهګرۍ ترمنځ د اړیکو اړوند مستند بیانات وړاندې شول او دا بیانات بیا د کوکنارو کرونده اړولو په پروګرامونو کې د دلیل په توګه ذکر شول. خو لکه څرنګه چې سیګار (۲۰۱۸زېږدیز: ۳۴ – ۳۵ کې) روښانه کړه، هغه شواهد چې د ترهګرۍ له عاید سره د نشه یي توکو سوداګرې ترې، ډېر زیات نیمګړي او د تفسیر وړ دي.

---

[9] https://www.independent.co.uk/news/world/asia/sacked-for-corruption-and-drug-dealing-but-warlord-seeks-return-to-power-in-helmand-۳۹۲۳۵۱ (د لاسرسي نېټه: د اګست ۱۵مه، ۲۰۲۰ز.).

[10] https://www.thetimes.co.uk/article/blow-for-britain-as-helmands-cleanest-governor-is-sacked-۸۰zdt۹k۰v۰x (د لاسرسي نېټه: د اګست ۱۵مه، ۲۰۲۰ز.).

په يقيني ډول چې د نشه يي توکو د سوداګرۍ او ترهګرۍ ترمنځ په اړيکو باندې د نظرونو توافق نه شته (هماغه سرچينه: **۳۵**) او دا چاره هم په ډاډه زړه د اړيکو ارزولو ميتوډولوجيکي ستونزې او هم د پاليسۍ-بنسټه شواهد-موندنې لپاره تمايل دواړه منعکسوي: دا کار د پاليسۍ د دريځ لپاره دې ترڅو د دوی موخو منعکسوونکي شواهد ترلاسه کړي.

پر همدې بنسټ، د نشه يي توکو د ممنوع کولو د غوښتونکو تقاضا ته د ځواب لپاره، د ۲۰۰۸ زېږديز کال له اکتوبر راهيسې د ايساف ځواکونه مامور کړی شوي و چې له نشه يي توکو سره د مبارزې په عملياتو کې ونډه واخلي ترڅو هغه کسان په نښه کړي چې احتمالاً له ترهګرۍ سره اړيکې لري. د نشه يي د ممنوع کولو په دې عملياتو کې هوايي ملاتړ هم شامل و.

په هر حال، په دې تړاو د ائتلاف ځينو غړو له اړخه يو شمېر مخالفتونه هم و. له ۲۰۰۹ څخه ۲۰۱۱ زېږديز پورې پوځي ډېروالی له نشه يي توکو سره د مبارزې اړوند و چارو د بسپنو ډېرولو او پراخولو لامل وګرځېد. په دې کار سره د هلمند په ځېر په ډېرو کوکنارو کرل‌کېدونکو سيمو کې، عسکر او هوايي ملاتړ ډېر شو چې د کوکنارو کښت ممنوع کولو او پراختيايي مرستو ډېرېدو لپاره يې، «د زړونو او ذهنونو خپلولو لپاره له ترهګرۍ سره د مبارزې د ستراتيژۍ» مطابق لوی ملاتړ وړاندې کړ.

د هلمند او کندهار خوراکي زونونه (لاندې نشه يي توکي او معيشتي پروګرامونه وګورئ) د دغو هڅو مستقيمه پايله وه. مګر له ۲۰۰۲ زېږديز څخه تر ۲۰۰۳ زېږديز پورې د برېتانيې مخکينيو ناکامو هڅو اړوند شواهدو او له نشه يي توکو سره د مبارزې په فعاليتونو کې د نورو ښکېلو لوريو له نيوکو سره سره، دا هم يو مورد و چې د متحده ايالاتو پوځي قوماندانانو په خپلواک ډول د نشه يي توکو د کروندو اړولو پروګرام د جبران لپاره خپل پروګرام پيل کړ چې د مارجې چټک کرنيز بدلون پروګرام (سيګار، ۲۰۱۸: **۵۲**) يې ښه بېلګه ده.

پوځي ډېروالی د متحده ايالاتو د دفاع وزارت او «INL» اداري ترمنځ د صف‌بندۍ او تقابل لامل وګرځېد. يو اړخ يې دا و چې له ترهګرۍ سره د مبارزې پوځي تصور په زياتېدونکي ډول د «زړونو او ذهنونو خپلولو» لپاره د کښت ممنوعيت، قانون پلي کولو او پراختيايي هڅو د همغږي کولو اړوند بحثونه ډېر کړل.

لکه څرنګه چې د کوکنارو کښت ته په کتو د هلمند خوراکي زون اوږدمهاله اغېزو (لاندې يې وګورئ) او له ترهګرۍ سره د مبارزې د ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه د زړونو او ذهنونو خپلولو د هڅو له ارزونې څرګنده شوې ده، دواړه فعاليتونه د خپلو موخو په ترلاسه‌کولو کې پاتې راغلي دي.

لکه څرنګه چې فيشټاين او ويلډ (په ۲۰۱۱ ز. کال کې) ويلي و، له ترهګرۍ سره د مبارزې په ستراتيژۍ کې، د ترهګريزو سيمو د شخړو سياسي پرمخ‌وړونکو پرځای په اقتصادي برخه تمرکز، د ترهګرۍ د سياسي لاملونو (په تېره بيا د حکومتي کسانو د فاسد او داړونکي چلند اړوند دلايلو) په ګوته‌کولو کې په بشپړ ډول پاتې راغلي دي.

د دې سربېره، د ځايي زورواکانو لېلارې د پروګرام د چارو پرمخ وړل، په بشپړ ډول د ناامنۍ اصلي لاملونه پياوړي کړل.

علاوه پردې، د کمزورو ادارو له‌لارې يوې سيمې ته په چټکۍ سره د پراخو سرچينو وربهولو؛ د تغيير د پروسې پرځای په پايلو تمرکز؛ د امن سيمو پرځای ناامنه سيمو کې د پراخو بسپنو په برخه کې د پخپل سر مالي تشويقونو رامنځ‌ته کولو، او د مسؤليت او پايلو ارزولو نشتوالي په ګډون د اجراأتو ډېر شمېر ماډلونو اصلاً ټوله تګلاره بې‌خونده کړه.

له ۲۰۱۳ زېږديز راهيسې د متحده ايالاتو پوځي حضور په کمېدو سره، د امنيتي مسايلو لاامله له نشه يي توکو سره مبارزه کمزورې شوه او هغه ادارې، چې د عسکرو ډېرېدو پرمهال رامنځ‌ته شوې وې؛ يا ختمې يا يې موخې بدلې شوې. لکه څرنګه چې سيګار (۲۰۱۸: **۵۵**) يادونه کړې، په پاليسيو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې د مسايلو ترمنځ هم د ستونزې د پېچلتيا په برخه کې، چې د ناکامو هڅو څخه يې سترړيا په ميراث پرېښې؛ او هم د پاليسۍ د سيمې په برخه کې، چې هيڅ يو کس يې په رښتيني ډول نه غواړي لمس کړي؛ يوه عمومي ناهمغږي ليدل کېږي.

خو په ۲۰۱۷زیږدیز کال کې، په ریکارډ ډول د اپیمو تولید (۹۰۰۰ ټنه ) چې له نشه یي توکو او جرایمو سره د مبارزې په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان یا UNODC له لوري یې راپور ورکړل شوی، د نشه یي توکو د سوداګرۍ او طالباني فعالیت ترمنځ د اړیکو باور بیا راژوندی او طالبان یې د نشه یي توکو-ترهګریز بنسټ په توګه بیا وښودل (سیګار، ۲۰۱۸: ۵۵). په پایله کې په ۲۰۱۷-۲۰۱۸زیږدیز کلونو کې امریکایي او افغان ځواکونو په ګډه په دې دلیل د نشه یي توکو پر لابراتوارونو هوایي بمبارۍ ترسره کړې چې ګواکې د ترهګرو عایداتي سرچینې به له منځه یوسي.

په ۲۰۱۷زیږدیز کال کې ادعا وشوه چې د عملیاتو په ترڅ کې د نشه یي توکو د پروسس ۲۵ لابراتوارونه ویجاړ شول چې له امله یې طالبانو ته ۱۲میلیونه امریکایي ډالر خساره ورسېده. په ۲۰۱۸زیږدیز کال کې نور بریدونه هم وشول. خو په دې اړه شک دی (مینزفیلډ، ۲۰۱۹ز.) چې ګوندې دغو بریدونو به د نشه یي توکو په قاچاق باندې اغېز لا څه چې، د طالبانو په عوایدو یې هم کوم مهم اغېز ښندلی وي که څنګه. ددغو بشپړو پوځي هڅو پایلې هم د کوکنارو د کښت په تړاو د مستقیمو اغېزو او هم د عامه نظریاتو اغېزمنولو په برخو کې لا هم ناڅرګندې دي.

# نشه یي توکي او سوله

له نږدې لس کلونو پوځي فعالیتونو څخه وروسته، افغان حکومت او نړیوال متحدین یې په ۲۰۱۰زیږدیز کال کې موافق شول چې په رسمي ډول د سولې لپاره خپل چمتووالی وښیي ترڅو شخړې ته د غیرپوځي حل موندلو په موخه له طالبانو سره خبرې وکړي.

د ۲۰۱۰زیږدیز کال د فبرورۍ په ۲۸ د افغانستان په تړاو د لندن په نړیوال کنفرانس کې، ګډونوالو د حکومت د هغه پلان هرکلی وکړ چې له مخې یې «هغو کسانو ته په ټولنه کې عزتمن ځای ورکوي کوم چې له جنګ څخه لاس په سر کېږي، خپلواکه او ازاده ټولنه کې ګډون کوي او د اساسي قانون اصولو ته درناوی کوي، له القاعده او نورو ترورېستي ډلو سره اړیکې پرې کوي او په سوله‌ییز ډول خپلې موخې تعقیبوي».[۱۱]

تېر ته په کتو، د سولې په بلنې پسې متصل پوځي حضور لا پسې پراخ شو چې یو کال مخکې په ۲۰۰۹زیږدیز کال د اوباما اداري پیل کړل. په هر حال، نه د پوځي شتون پراخېدو اغېزمنتیا او نه هم بیاځلي په ټولنه کې جذبېدو لپاره د افغان حکومت د هڅو لومړۍ پړاو ترا اخره سم ډول وارزول شو.[۱۲]

لکه څرنګه چې په بېلابېلو څېړنو کې ورباندې ټینګار شوی دی، د افغانستان د سولې او له ټولنې سره د بیا یوځای کېدو پروګرام، نه یوازې د طالبانو په څېر د حکومت ضد وسلوالو کسانو ټولنې ته د بېرته راګرځېدو په برخه کې په ټاکل شوو موخو کې پاتې راغی، بلکې اداري فساد یې پراخ او حساب‌ورکول یې کمرنګي کړل.[۱۳]

په ۲۰۱۸زیږدیز کال کې د افغانستان د سولې او پرمختګ ملي چوکاټ (ANPDF) له نشه یي توکو سره مبارزه ډېره لږ تشریح کړې وه، په داسې حال کې چې ددغه چوکاټ په دوهمه بڼه باندې خبرې روانې دي او په جینیوا کې د نړیوالو بسپنه‌ورکوونکو کنفرانس ته د تیارۍ په درشل کې چمتو کېږي، تر اوسه یې د نشه یي توکو سره مبارزه یا خپله د نشه یي توکو اړوند مسایلو ته کومه ځانګړې پاملرنه لا هم نه ده کړې.

---

۱۱ د افغانستان رسمي اعلامیه، د افغانستان په تړاو نړیوال کنفرانس، لندن، ۲۰۱۰ز، د جنورۍ ۲۸. (د لاسرسي نېټه: د اګسټ ۲، ۲۰۲۰). https://www.europarl.europa.eu/meetdocs/۲۰۰۹_۲۰۱۴/documents/d-af/dv/af-london_conf_jan۱۰/af-london_conf_jan۱۰en.pdf

۱۲ سیګار، ۲۰۱۹. له ټولنې سره د پخوانیو جنګیالیو بیا یوځای کېدل: په افغانستان کې د متحده ایالاتو د تجربو درسونه. https://www.sigar.mil/interactive-reports/reintegration/index.html

۱۳ سیګار، ۲۰۱۹.

د حکومت له لوري دا ډول ردول په هېواد کې د ناروا اقتصاد یوې برخې ته د هېرولو خطر رامنځته کوي. طالبان هڅه کوي چې پخواني حالت بیا راولي او په دې ټینګار کوي چې د دوی په واکمنۍ کې د کوکنارو کرنه او وایي که دوی واک ترلاسه کړ نو کولی شي د کوکنار کر صفر کړي. که څه هم، نه افغان دولت او نه طالبانو او نه هم نورو شریکانو د سولې په روانو خبرو کې د نشه يي توکو او ورسره د مبارزې اهمیت تر دا مهاله په ګوته کړی نه دی.

د متحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ د دوه اړخیزو شدیدو خبرو څخه نږدې ۱۸ میاشتې وروسته، چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو پخواني سفیر ښاغلي زلمي خلیلزاد پرمخ وړلې؛ د متحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ د ۲۰۲۰زیږدیز کال د فبرورۍ په ۲۹مه یوه موافقه لاسلیک شوه. دغې هوکړه لیک لاندې څلور اصلي برخې درلودې:[۱۴]

- په لومړنیو ۱۳۵ ورځو کې، متحده ایالات به د خپلو پوځیانو شمېر ۸۶۰۰ ته راکم کړي او نور متحدین به هم په همدې تناسب خپل عسکر راکم کړي. په بدل کې، طالبانو ژمنه وکړه چې افغان خاوره به د نړیوالو ترهګریزو ډلو له لوري ونه کارول شي.
- افغان حکومت به (چې په بشپړ ډول له خبرو بهر پاته و) ۵۰۰۰ طالب بندیان خوشې کړي او په بدل کې به یې طالبان ۱۰۰۰ افغان بندي عسکر ازاد کړي.
- د هېواد په تړاو نورو بحثونو له پاره به بین الافغاني خبرې اترې پیل شي.
- متحده ایالات به پر طالب مشرانو لګېدلي بندیزونه لرې او له ملګرو ملتونو سره به د بندیزونو په لرې کولو کار وکړي.

د متحده ایالاتو او طالبانو ترمینځ هوکړه د ډېرو له انده ستونزمنه او د افغان دولت د حاکمیت او مشروعیت راټیټونکې ده. خو د تېرې پروسې تمرکز چې د بېلابېلو سیاسي ډلو او طالبانو ترمنځ په ملي کچه د قدرت وېشلو چمتووالی رامنځته کوي او له هېواد څخه د متحده ایالاتو او د هغوی د متحدینو د وتلو له پاره د یوه پلان په توګه، په سمه توګه د جګړې مختلف لاملونه روښانه کوي او هغه فکتورونه چې تر دا مهاله یې جګړه روانه ساتلې ده را برسېره کوي.

ددې سربېره، دې هوکړې په ۲۰۱۹زیږدیز کال کې د ولسمشرۍ دورې د پایلې ته رسېدو له امله د سیاسي کړکېچ د هوارولو له پاره چې په دغه مهال کې له طالبانو سره د خبرو اترو د پرمخ وړلو د څرنګوالي په تړاو د سیاسي مشرانو ترمینځ اجماع نه وه او له شخړو ډکې ټاکنې ترسره شوې، هیڅ هم ونه کړای شول.

د سولې په بهیر کې یوه اړینه آرامه نقطه د نشه يي توکو د اقتصاد د رول پوښتنه ده. تر دا مهاله دا د حیرانتیا وړ نه ده چې د نشه يي توکو اقتصاد ته په ځانګړې ډول له امنیتي لیده کتل کېږي. د بېلګې په توګه، د سیګار (۲۰۱۸: vii) مشاهدې دا ښکاره کړل او دا هم څرګند دي چې دې څیز ته متحده ایالات له کوم لیده ګوري:

> *د افغانستان د نشه يي توکو سوداګرۍ د وسلوالو ډلو تمویلولو، حکومتي فساد پراخولو، دولتي حاکمیت راټیټولو او پراخو انساني او مالي خساراتو په ګډون له بېلابېلو اړخونو څخه بیا رغونه او امنیتي موخې کمزورې کړې دي.*[۱۵]

خو لکه څرنګه چې په ځینو څېړنو (ګوډهینډ او مینزفیلډ ۲۰۱۰؛ کریسچین ایډ، ۲۰۱۹زیږدیز) کې ذکر شوي دي، د نشه يي توکو اقتصاد هم د نظم او دغه راز د بې نظمۍ منبع ده او همدارنګه د سیاسي مشرانو قدرت تنظیمولو او کلیوالو ته هوساینې برابرولو یوه ښه سرچینه کېدای شي. دا نظریه د سولې او دولت جوړونې له ښکته څخه پورته مسیر او سیمه ییز بهیر ته او د معاملو په رامنځته کولو کې د سرچینو ونډې ته ډېره پاملرنه راجلبوي.

۱۴ بهرنیو چارو وزارت، ۲۰۰۲ز.

۱۵ سیګار، ۲۰۱۸ز: vii

دا نظریه د دولتجوړونې او سولې له پورتهڅخهښکته لوري ته تلونکي بهیر سره توپیر لري چې په افغانستان کې عامه شوې ده او د کوکنارو اقتصاد لامل ګرځي چې په افغانستان کې په بشپړ ناروا دي. له پورتهڅخهښکته لوري ته تلونکې تګلارې د افغانستان په رسمي پالیسیو کې هم انعکاس موندلی دی، د بېلګې په توګه د ثابتو پراختیایي ۱۲ګونو موخو (SDGs goals ۱۲) دولتي جوړښت کې ښکارې او د اپیمو د اقتصاد د تغییر وړ اړخونه یې له پامه غورځولي دې چې کېدای شي د ثابتو پراختیایي موخو (SDG) پر لور ترې کار واخیستل شي. (نعمت او پین، ۲۰۲۰ز.)

## نشه يي توکي او روغتیا

په افغانستان کې د اپیمو د کرلو تاریخچه ۱۱۰۰ میلادي ته رسېږي او د استعمال یې هم اوږده مخینه شتون لري. (تاډ او نور، ۲۰۰۵). په دغه هېواد کې اپیم درې ډوله خلک کاروي. لومړی، دودیز کاروونکي چې له پخوا راهیسې د درد ارامولو او خوب لهپاره تاریاک (اپیم) کاروي او د روږدي کېدو یا اعتیاد لامل ګرځي. د بېلګې په توګه، د بدخشان په واخان کې د اپیم ډېر شمېر کاروونکي همدا ډول دي.

دوهم، په هېواد کې د اپیمو عصري کاروونکي هم شته، په ځانګړې توګه د ښاري نسل په ځوانه طبقه کې دا ډول کاروونکي شته چې د هیروینو یا نورو نشه یي توکو د قاچاق کوونکو پهواسطه روږدي شوي دي. دریم، کډوال دي چې په بهر کې (په ځانګړي ډول ایران کې) روږدي شوي او د روږدي په توګه خپل کور ته راستانه یا ډیپورټ شوي او په خپلو کورنیو پورې تړلي یا په کوڅو کې ژوند تیروي.

په تېرو څو لسیزو کې، په افغانستان کې د نشه يي توکو استعمال د نننی مارکیټ پراخ شوی چې عامه روغتیا ګواښي. د نشه یي توکو استعمال له دودیز ډول څخه تصنعي هغه ته اوښتی دی. په تېره لسیزه کې د نشه یي توکو کاروونکو کې څرګند ډېروالی تر سترګو کېږي او د وروستیو رسمي شمېرو لهمخې، په هېواد کې لږ تر لږه ۲،۵ میلیونه کسان نشه یي توکي کاروي،[12] چې د وقایې ترڅنګ د معالجې اړوند چارو ډېرېدو ته اړتیا پېښوي.[17]

خو د نشهیي توکو استعمال او روږدي کېدل په افغانستان کې د نشه یي توکو د اقتصاد تر ټولو ډېره له پامه غورځېدلې برخه ده. په افغانستان کې د UNODC پخوانی استازی ښاغلی ژان لوک لیماهیو (Jean-Luc Lemahieu) د نشهای توکو داخلي ناوړه استعمال او د درملیزو اسانتیاوو نشتون پټه یا غلې څښېدونکې تراجیدي ګڼي.[18] دا سې انګېرل کېږي چې افغانستان په نړۍ کې د نشهای توکو تر ټولو ډېر روږدي کسان لري چې د ټولې نړۍ د اوسط دوه برابر دی.

ستونزه یوازې په مستقیم استعمال پورې تړلې نه ده: څېړنو ښودلې چې ماشومان د اپیم دود څکولو ته اړ ایستل کېږي، چې د دوی د «غیرعادي ودې» ګواښ رامنځته کوي (متحده ایالات، INL، ۲۰۱۰). د ملګرو ملتونو د معلوماتو پربنسټ، د هېواد ډېری سیمو کې اساسي درملو ته نه لاسرسی ددې لامل کېږي چې ښایي نږدې نیمايي والدین د خپلو ماشومانو د درد ارامولو لهپاره په اپیمو ډډه ولګوي او دا په دې معنا ده چې د افغانانو راتلونکی نسل د اعتیاد په خطر کې واقع دی.

---

۱۲ طلوع نیوز، افغانستان له ۲،۵ میلیونه ډېر روږدي لري: چارواکي، د جنوری ۱۱مه، ۲۰۲۰. (لاسرسی، د فبروری ۱۵، ۲۰۲۰) https://tolonews.com/afghanistan/afghanistan-has-over-25m-drug-users-official (accessed 15 February 2020).

۱۷ د عامې روغتیا وزارت له یوه لوړپوړي چارواکي سره مرکه، اګسټ ۲۰۱۹، کابل.

۱۸ د نشهای توکو او جرمونو اړوند د ملګرو ملتونو اداره، د جون ۲۲مه په افغانستان کې د نشهای توکو نړیواله ورځ ولمانځل شوه، د جون ۲۲مه ۲۰۱۳،., https://www.unodc.org/afghanistan/en/world-drug-day-marked-in-afghanistan---۲۲-june-۲۰۱۳.html

دا سې هېواد کې چې نږدې څلورمه برخه نفوس یې ځوانان او د نشه‌ای توکو استعمال یې په ځوانانو کې مخ په ډېرېدو دی، د ځوانانو د ساتنې او نجات په موخه د نشه‌ای توکو د استعمال ستونزه ببرنی پاملرنې ته اړتیا لري. (UNODC، ۲۰۱۴). ښځینه کاروونکې، که څه هم د دوی په اړه معلومات ډېر کم دي، د نوم‌بدۍ له ستونزې او درملنې ته د لاسرسي اړوند ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.[۱۹]

ددې سربېره، په افغانستان کې له نشه یي توکو سره د مبارزې چارې د درملنې په برخه کې د پانګونې ترڅنګ د نشه‌ای توکو د کنټ اړولو او مخنیوي باندې تمرکز لري چې د متحده ایالاتو د لګښتونو ډېره کمه برخه ښیي (UNODC ، ۲۰۰۹). د یادولو ده چې د سیګار راپور (په ۲۰۱۸ز. کال کې) د تقاضا کمېدو باندې بحث نه و کړی، چې دا خپله افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د نشه یي توکو د اړوند ستراتیژیو نه اغېزناکي ښیي.

درملیزې اسانتیاوې په هېواد کې په نامناسب حالت کې دي. په ۲۰۱۴زېږدیز کال، افغان حکومت ویلي و چې د هېواد ۹۹ سلنه روږدي، لا هم درملیز خدمات نه ترلاسه کوي.[۲۰] علمي څېړنو ښودلې چې په عمومي ډول روږدو کسانو ته خدمات وړاندې کولو کې د کارکوونکو او سرچینو کمښت دی او په ځانګړي ډول په کلیوالي سیمو کې دا ډول خدمات نه لیدل کېږي (ټاډ او نور، ۲۰۱۲).

په ۲۰۱۹زېږدیز کال کې، د عامې روغتیا وزارت د پلان له‌مخې، د متحده ایالاتو یو میلیون بودیجه روغتیایي خدماتو ته ځانګړې شوه چې په کې د ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ هغو کې د نشه یي توکو بستري ناروغانو ته اروا پوهنیزي-ټولنیزي درملنې شاملې وې.[۲۱] په هر حال، په دې اړه کوم معلومات نشته چې وښیي چې دا پلان تر کومې کچې پلی شوی او کومې موخې ترلاسه شوي دي. ډېری درملیز مراکز د کولمبو پلان په واسطه حمایه شوي چې د نړیوال بانک/متحده ایالاتو په واسطه تمویلېدونکی پروګرام دی او د نشه یي توکو پرېښودونکې (abstinence-based) تګلاره کاروي.

دا تګلاره ،لکه څرنګه چې تاریخي لاسوندونه یې ښیي (ټاډ او نور، ۱۹۹۰)، نااغېزناکه وه: د نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت اټکل کړی و چې د بیاروږدي‌کېدو کچه له ۹۰ سلنه څخه لوړه ده.[۲۲] یوازې ډېر لږ شمېر درملیز کلنیکونه، چې د غیردولتي مؤسساتو له‌لوري بسپنه ورکول کېږي، د شواهد-بنسټه زیان کمونې اصول تعقیبوي چې د اصول په غیرقانوني انتفاعي معالجوي مراکزو کې شته دي. (ټاډ او نور، ۲۰۱۲)

د شواهد-بنسټه درملنې د پراخولو پروړاندې لوی خنډ دا دی چې د کولمبو پلان پواسطه تمویلېدونکې پروګرامونو، د زیان کمونې پروګرامونو ته په منفي ډول انعکاس ورکړی او د پرلپسې جامع درملنې پرځای یې په انحصاري درملنې باندې تمرکز کړی دی (هماغه اثر). د اپیډ بدیل درملنه او میتاډون کارول، چې د نړیوالې روغتیایي ادارې (WHO) له لوري تصدیق شوي دي؛ د افغانستان نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت له مخالفت سره مخ شوي دي.[۲۳]

---

۱۹ په دې تړاو د واشنګټن پوسټ یوه کیسه څرګندوي چې د ښځینه روږدو درملنه ډېره بده ده، څکه په کلیوالي سیمو (د هېواد په محافظه کاره سیمو) کې،په ځانګړې توګه په جنوبي هلمند ولایت (په نړیوال‌ه کچه د اپیمو ستر تولیدونکي مرکز) کې ښځې اجازه نه‌لري چې له کوره بهر ووځي. په مقاله کې د یوې ښځې کیسه راخیستل شوې چې د نشه‌اي توکو درملیز کلنیک ته تللې ترڅو خپل ماشوم وپلوري. دلته دې ته ورته نورې ډېر کیسې هم شته، دا کیسه د نومورې کلینیک یوې ډاکټرې وکړه. افغانان د نشه‌اي توکو له اعتیاد سره مبارزه کوي، واشنګټن پوسټ، د اپریل ۲مه ۲۰۰۸، http://www.washingtonpost. com/wp-dyn/content/article/۲۰۰۸/۰۴/۰۵/AR۲۰۰۸۰۴۰۵۰۲۲۰۰.html

۲۰ د افغانستان اسلامي جمهوریت، له نشه‌اي توکو سره د مبارزې وزارت، د نشه‌اي توکو د عرضې کمولو ملي پالیسي، کانګریس ته د سیګار له راپور راخیستل شوی، د اپریل ۳۰مه ۲۰۱۴ز. http://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/۲۰۱۴-۰۴-۳۰qr.pdf

۲۱ د عامې روغتیا وزارت، ۲۰۲۰، ۲۰۱۹ مالي کال پلان، دا ترونی نه پرانیستل کېږي. (لاسرسی: د جولای ۲۱مه ۲۰۲۰) https://moph.gov.af/sites/default/files/۲۰۱۹-۰۷/۲۰.pdf

۲۲ روبین، د نشه‌ای توکو د استعمال زیاتېدو پرمهال افغانانو له‌پاره یو څو درملنې. نیویارک ټایمز، د اګسټ ۲۷م ۲۰۱۱. http://www.nytimes.com/۲۰۱۱/۰۸/۲۸/world/asia/۲۸kabul.html?pagewanted=all&_r=۱&&gwh=pay=gwt&۲A۳AFE۸C۹F۹۵۱۸۰C۴۰CB۲۰A۹ABCF۶E۲D+

۲۳ په ۲۰۱۹ز. کال کې د وزیرانو معرفي‌کولو پرمهال له نشه‌اي توکو سره د مبارزې وزارت ړنګ شو. حکومت اعلان وکړ چې دا به په هېواد کې له نشه‌ای توکو سره د مبارزې پالیسۍ اغېزمنې نه کړي.

له دې ستونزې سره ځنګ کې، .د حکومتي کسانو یا حکومت سره د تړلو افرادو په ګډون.د نشه‌ای توکو له سوداګرۍ څخه ګټه اخیستونکي کسان به ښايي د نشه‌ای توکو اغېزمنه درلمنه خپلو سوداګریزو ګټو ته د ګواښ په توګه وانګیري.[۲۴]

حکومت نه یوازې په عامه روغتیا باندې د نشه‌ای توکو د استعمال ناوړه اغېزې معلوموي، بلکې په ټولیز ډول باندې د ټولنې پر ثبات باندې یې اغېزې هم معلوموي.[۲۵] په هېواد کې د نشه‌ای توکو د کاروونکو د بړېدلو د خطر مخنیوي په له‌پاره، حکومت د نشه یي توکو د تقاضا کمونې پالیسۍ له‌لارې (عامې روغتیا وزارت، ۲۰۱۹) په مخنیوي یا وقایه او درملنه باندې خپر تمرکز ډېر کړی و او لاندې موخې یې وټاکلې:

- د نشه‌ای توکو کارکوونکو د درملنې له‌پاره د ملي پرلپسې درملیزو خدماتو ته د لاسرسي پراخول او ثبات ډېرول.
- د ښوونځیو، جوماتونو، کارځایونو او رسنیو په ګډون په یو شمېر ادارو کې د نشه‌ای توکو د استعمال د مخنیوي پروګرامونو ډېرول.
- د عامه‌پوهاوي د کمپاینونو ډېرول چې د نشه‌ای توکو استعمال راکم کړي او د کوکنارو کرکېلې ناوړه پایلې روښانه کړي.[۲۶]

د نشه‌ای توکو د تقاضا کمونې ملي د پالیسۍ (۲۰۱۹-۲۰۲۳) موخې په لاندې ډول دي:

- د هغو زیانمو ډلو کمول چې ښايي د نشه‌ای توکو په استعمالوونکو بدل شي
- د نشه یي توکو ته له مخه‌کولو څخه د ماشومانو، ځوانانو او نورو زیانمنو ډلو مخنیوی.
- په اغېزمنو ټولنو کې د نشه‌ای توکو د استعمال ټولنیزو-اقتصادي پایلو راکمول او د بیارغاونیز خدماتو وړاندې کول.[۲۷]

ځیني غیر دولتي مؤسسات یو ځای شوي او کنسرسیوم یې جوړ کړی لکه ودان (د افغانستان د پرمختګ خیریه ټولنه) او نجات-ازادي.[۲۸] دا سې ښکاري چې دا ډول جامع ادارې د «INL» په څېر لویو بسپنه‌ورکوونکو سره له نږدې کار کوي. زموږ د معلوماتو له‌مخې، په هېواد کې د ددغو ادارو له لورې د ترسره شویو کارونو او د پایلو په اړه یې عامو خلکو سره بشپړ معلومات نشته.

په ښکاره ډول د امنیتي دلایلو له‌امله، بسپنه ورکوونکي هم څېړونکو ته په سیمه کې د معلوماتو په ورکولو کې دوه‌زړې دي. نو عامه سیمه کې په دې اړه چې کومې ادارې په جامع ادارو کې راځي، څوک بسپنه ورکوي او کوم اصلي فعالیتونه ترسره کوي؛ ډېر کم معلومات دي. د اغاخان پراختیایي شبکه هم په جلا ډول د نشه یي توکو د تقاضا راکمولو د پروګرام په برخه کې فعالیت کوي.

۲۴ روبین، د نشه‌ای توکو د استعمال زیاتېدو پرمهال افغانانو له‌پاره یو څو درملنې. نیویارک ټایمز، د اګست ۲۷م ۲۰۱۱. .http://www.nytimes.com/2011/08/28/world/asia/28kabul.html?pagewanted=all&_r=1&&gwh=pay=gwt&2D2E2FCBA9A02BC04C081951F9C8EFA3A2

۲۵ د افغانستان اسلامي جمهوریت، د نشه‌اي توکو اړوند افغان ملي پلان ۲۰۱۵-۲۰۱۹، (لاسرسی: د فبرورۍ ۱۵، ۲۰۲۰)، https://polis.osce.org/ 2015-2019-afghan-national-drug-action-plan

۲۶ هماغه اثر

۲۷ د افغانستان اسلامي جمهوریت، د نشه‌ای توکو د تقاضا کمونې ملي پالیسي ۲۰۱۹-۲۰۲۳

۲۸ د افغانستان د پرمختګ خیریه بنسټ (ودان) یوه ځايي، غیرانتفاعي، غیرحکومتي اداره ده چې سوله‌ییز، له نشه‌ای توکو پاک، ډیموکراټیک، پرمختللی او نېکمرغه افغانستان له‌پاره کار کوي((https://wadan.org)). او نجات یوه غیردولتي مؤسسه ده چې روږدو او کورنیو ته یې هراړخیزه درملنه وړاندې کوي او له ټولنې سره د بیا یوځای‌کېدو د بهیر ملاتړ کوي (http://nijaatrehab.org).

په داسې حال کې چې د تېرو څه د پاسه ۱۳ کلونو لپاره په افغاني پالیسیو کې د نشه‌ای توکو تقاضا د پام وړ راکمول د اصلي لومړیتوبونو څخه وه، د یادو پالیسیو د نهایي پایلو په تړاو د نشه‌ای توکو د کاروونکو ډېرېدو جدي پوښتنې راپورته کړې دي.

په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې د «INL» د سروې پربنسټ[۲۹]، د ټولو هغو افرادو شمېر چې د یو یا زیاتو نشه‌ای توکو د کارولو مثبت ټیسټ یې درلود، له ۲،۹ څخه تر ۳،۲ میلیونه پورې اټکل شوی و؛ او د نشه یي توکو د ټولو ډولونو د کاروونکو شمېر له ۲ څخه تر ۲،۵ میلیونه پورې اټکل شوی و. دا ټکان ورکوونکې شمېرې دي او ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري. د دغه خطر د زیاتېدو یو دلیل د اغېزمنو وقایوي پروګرامونو نه‌شتون دی[۳۰]. د نشه‌ای توکو د کاروونکو د ډېروالي بل لامل روږدو کسانو لپاره د کافي معالجوي خدماتو نشتوالی دی.[۳۱]

په لنډ ډول، په داسې حال کې چې په هېواد کې د نشه‌ای توکو د کاروونکو شمېر ډېروالی لري، روږدو کسانو ته د اړتیا وړ ځوابي خدماتو او درملیز خدماتو وړاندې کول د هېواد په ډېرو برخو کې یا هیڅ نشته، یا بیخي په ټیټه کچه دي. دا هم د تأمل وړ خبره ده چې آن د پروژو د لویو بسپنه‌ورکوونکو په واسطه کارېدونکې وقایوي او معالجوي تګلارې زړې او ناغېزناکې دي.

د نشه‌ای توکو اعتیاد د درملنې لپاره د یوې غیر دولتي جامع مؤسسې جوړول د پیاوړې غبرګون پر لور یو مثبت ګام دی. خو دې ته په پام سره چې د «INL» په څېر د لویو بسپنه‌ورکونکو له لوري حمایه‌کېدونکې نوښت دی، خو د دغه سکتور د بسپنو راکمېدو پرمهال، د دا ډول مؤسسو د بقا تصور ستونزمن دی.

دا هم د تأمل وړ خبره ده چې د ستونزې پېژندلو او د هوارولو لپاره د پلان جوړولو سره سره، د عامې روغتیا وزارت داسې میکانیزمونه نه لري ترڅو نوموړي پلانونه پلي او په عملیاتي پروګرامونو یې بدل کړي چې ستونزو هوارولو ته لومړیتوب ورکوي. بالاخره، د نشه یي توکو د تقاضا د کچې بې‌ساري ډېرېدلو په دې اړه جدي پوښتنې راپورته کړي چې څرنګه په اغېزمنه توګه دا ډول لویه ستونزه هواره او جامع روغتیایي خدمات وړاندې کړي.

## نشه یي توکي او معیشتي پروګرامونه

له نشه یي توکو سره د مبارزې سیاست اصلي جوړښت د ځانګړو پروژو پلي‌کولو باندې تمرکز دی چې د معیشتي بدیل (د بدیل پرمختګ) په توګه ګڼل کېږي.

که څه هم جرمني، اروپايي ټولنې، اطریش، جاپان، ډنمارک او روسیې مرستې کړې دي، خو د بریتانیا او متحده ایالاتو حکومتونه دوه اصلي شریکان او بسپنه‌ورکوونکي دي. د ۲۰۱۳ نه تر ۲۰۱۷ پورې، د نورو بسپنه‌ورکوونکو له لوري د شوې مرستې ترڅنګ، متحده ایالاتو ۸۵ سلنه بدیلې پرمختګي پروژې تمویل کړې او بریتانیا بیا ۱۵ سلنه تمویل کړې دي. (UNODC، ۲۰۱۹).

د دې دورې ټولټال بودیجه شاوخوا ۴۳۸ میلیونه امریکايي ډالره وه. د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۸ زېږدیز کال پورې د بریتانیې له لوري له نشه یي توکو سره د مبارزې لپاره د ټولټال مرستې له ډلې معیشتي بدیل پروګرامونو ته ځانګړې شوې مرستې په اړه معلومات نشته. د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۷ زېږدیز کلونو ترمنځ نشه یي توکو سره د مبارزې لپاره د بریتانیې د بسپنو ۴۲ سلنه، چې ۱۵۴،۵ میلیونه پونډه کېږي؛ بدیلو معیشتي پروګرامونو ته ځانګړې شوې وه.

---

۲۹ INL، په افغانستان کې د نشه‌اي توکو د کارولو سروې ۲۰۱۵، اکتوبر ۲۰۱۲. (لاسرسی: د فبرورۍ ۱۵، ۲۰۲۰) https://photos.state.gov/libraries/afghanistan/۹۴۱۸۷۷/Afghanistan%Reports/Drug%۲۰Use%۲۰survey.pdf%۲۰

۳۰ د عامې روغتیا وزارت له یوه لوړ پوړي چارواکي سره مرکه، اګسټ ۲۰۱۹، کابل.

۳۱ هماغه منبع

د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۸زیږدیز کلونو ترمنځ، د ټولټال ۲۰ میلیونه پونډو په ارزښت دوی د «CARD-F» دوه پړاوه تمویل کړي، چې لومړی پړاو د دوهم هغه په پرتله په څرګنده د معیشتي بدیل پروګرام و. د بریتانیې په ملاتړ د بدیل پرمختګ بل پروګرام د هلمند خوراکي زون (۲۰۰۸ نه تر ۲۰۱۲) پروګرام و، چې بریتانې ورسره ۴۸ میلیونه امریکایي ډالر او متحده ایالاتو ورسره ۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو مرسته کړې وه.

لکه څرنګه چې وړاندې ذکر شول، له نشه‌ای توکو سره د متحده ایالاتو د ۲۰۰۴زیږدیز د مبارزې پالیسي داسې جوړه شوه چې «NDCS» له معیشتي بدیلونو سره برابر کړي. خو تر ۲۰۰۹زیږدیز کال پورې عملاً، د کوکنارو د کښت اړولو ته لومړیتوب ورکړل شو.

په ټوله کې، د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۷زیږدیز پورې (سیګار، ۲۰۱۸: ۱۰۲)، نشه‌ای توکو سره د مبارزې له‌پاره د ۸،۲۲ میلیارده امریکایي ډالرو له بودیجې څخه، د سیګار په وینا «بدیلو پرمختګي پروګرامونو» ته، ۱،۴۲ میلیارده امریکایي ډالر ځانګړي شوي و چې له ۲۰۰۸زیږدیز څخه ۲۰۱۵ز. پورې له ۱۵۰ څخه ۲۰۰ میلیونه امریکایي ډالر هر کال ترلاسه شوي دي.

لکه څرنګه چې له پورته څرګندونو ښکاري (او لاندې دریم جدول وګورئ)، ډېری بدیل پرمختګونه د سیمه ییزو پروژو له‌لارې په هغو ټاکل شوو ځایونو کې پلي شوي، کومو چې د کوکنارو د کښت له‌پلوه ډېر اهمیت درلود. د دوی موخه تر ډېره د ساده غلو بدیل و[32] او د بدیل پرمختګ د نومولو پرمهال یې د خاشخاش د کرکېلې سیمې د کمولو هیله‌مندي هم درلوده.

د یوې مودې له‌پاره، په ځانګړې توګه د ۲۰۰۴زیږدیز او ۲۰۱۰زیږدیز ترمنځ، هڅې روانې وې چې له نشه ییي توکو سره مبارزه اصلي مسیر وګرځوي[33] او سیمو ته له ځانګړو شوو پروژو څخه لرې وي. د کوکنارو د کښت د بېلابېل ډوله عملیاتو پر وړاندې دا ډول اصلي مسیر ته راګرځولو ته د کلیوالو ځواب د ګواښ او نامعلوم حالت رامنځته کول و.

ددې هڅو (وګورئ وارډ او نور، ۲۰۰۸ز.) موخه دا وه چې د کوکنارو کرکېله په وسیع پراختیایي پلان‌جوړونه کې شامل او د کلیوالي ژوند جوړښتي ګواښ او نامعلوم حالت ته ډېره پاملرنه وکړي څکه دغه وضعیت د اپیمو کښت ته خلک هڅول.

اصلي مسیر ته د راګرځولو په هڅو کې اصلي شریکان نړیوال بانک، DFID، آسیایي پراختیایي بانک او اروپایي ټولنه وه. د پروګرامونو او پروژو په بڼه او پلي‌کولو کې له نشه ییي توکو سره مبارزې ته د پاملرنې اړونکو لارښودونو موخه د پراخ کلیوالي پرمختګ لیدلوري رامنځته کول و.

دا چاره په ملي لومړیتوبي پلانونو (PPPs)[34] کې تر یوې اندازې ومنل شوه او د «CARD-F» لومړی پړاو د دا ډول اصلي مسیر ګرځوونکې تګلارې ځانګړې پایله ده. خو د لومړیتوبونو په بدلېدو سره، په اصلي مسیر ګرځوونکې تګلاره کې د پانګونې مومنتم په خپل ځای نه پاتې کېږي.

۳۲ د بېلګې په ډول، د هلمند خوراکي زون وګورئ. (مینزفیلډ، ۲۰۱۹)

۳۳ په عامه پالیسۍ کې له نشه‌ای توکو سره د مبارزې د هر ډول پلان شوې پالیسۍ ارزول پلورالیستي تګلاره وړاندیزوي، چې د قانون حاکمیت یا امنیتي ستونزو په نسبت، د کوکنارو کرکیله زیاتېدونکې ستونزه ده.

۳۴ د لومړیتوبونو ملي پروګرام (NPPs) د افغانستان حکومت له‌لوري په ۲۰۰۹ز. کال کې رامنځته شو او موخه یې دا وه چې د افغانستان ملي پراختیایي ستراتیجۍ مطابق د حکومت حمایت لومړیتوب‌بندي کړي.

دوه نقطې دي چې د معيشتي بديلو پروګرامونو له‌لارې د اپيم د کښت راکمولو هڅې توضيح کوي. لکه څرنګه چې سيګار وايي (۲۰۱۸: ۱۰۲)، لومړی په سيمه ييزو ځانګړو پروژو کې د معيشتي بديلو پروګرامونو (له دريو تر پنځو کلونو پورې) لنډمهاله خاصيت او دوهم اصلي مسير ته راګرځولو تګلارې له‌پاره د اوږدمهاله پاملرنې نشتون دی:

دا خپرونې نور د اوږدمهاله پايښت لپاره د سياليو خنډونو او فرصتونو مخکينيو شرايطو د بشپړ شننې پر بنسټ ندي.

*دا (د بديل پرمختګ) پروګرامونه په تېرو لسيزو کې د پرلپسې او اوږدمهاله ستراتيجکې پاملرنې پرته اجراأ شوي دي. دا پروګرامونه د نورو معيشتي انتخابونو د واحدو محدوديتونو او رقابتي سياليو او اوږدمهاله باثباته شرايطو د تجزيې او تحليل پر بنسټ نه دي پلي شوي. ...*

*ددې پرځای، دوی په لنډمهاله تګلارو تمرکز درلود چې تر ډېره يې په بديلو غلو او اړوند کرنيزو وسايلو په عرضه‌کولو او کرنيزو تجربو او د زېرمه کولو اړوند روزنو باندې تکيه کوله.*

*په مکرر ډول (د بديل پرمختګ) د پروګرام له‌لارې وېشل کېدونکي وسايط لنډ مهال، له دوو تر دريو کلونو پورې وخت درلود چې په څرګند ډول دې له‌پاره ناکافي دي چې کوم‌ګډونوال په دايمي ډول له نامشروع کښت څخه راګرځولو ته وهڅوي.*

ددې سربېره، د معيشتي بدلانه ډېری پروژې، که څه هم په هغو ولايتونو کې دي کوم ځای کې چې ډېر کوکنار کرل کېږي، خو په پام کې ده چې د غوره سرچينو لرونکو (د اوبو، زېربناوو او مارکيټ ته د لاسرسي په څېر منابعو لرونکو) ولسواليو باندې تمرکز وکړي، چېرته چې د کوکنارو کرکيلې څخه اوښتون امکان ولري او په هغو ولسواليو باندې تمرکز نه کوي چې د کوکنارو کښت څخه د خلکو راګرځول شوني نه وي.

لکه څرنګه چې سيګار (په ۲۰۱۸ز. کال کې) يادونه کړې وه، په حقيقت کې، ډېری پروژو ته د معيشتي بدلانه نوم ورکول کېده (همدارنګه مينزفيلډ او پين، ۲۰۰۵ز. وګورئ)، خو د پروژو په ډيزاين يا پلي‌کولو کې داسې هيڅ نه سترګو کېږي چې د کوکنارو د کرکيلې زياتولو تر شا فکتورونه روښانه يا ځانګړی کړي.

د پروژو ارزونې ډيری ميټريکونه په پايلو باندې تمرکز لري او په کليوالي عايداتو او د دندو په ايجاد کې د ډېروالي ادعا کوي، خو دا چاره تر ډېره په بشپړ ډول د پروژې په پايلو کې منعکسه شوې ده.

درېيم جدول د بديل پرمختګ تر څنګ اصلي پروژې

| | | |
|---|---|---|
| د معيشتي بديل صندوق اړوند څېړنه (RALF) | ۲۰۰۴-۲۰۰۷ | DFID |
| د RALF's د رقابتي څېړنې ميکانيزم ددې لپاره وچې په افغانستان کې د معيشتي بديلونو اړوند فرصتونو د پرمختګ او ودې لپاره نوښتي نظريات په حرکت راولي. تمه کېده چې دا څېړنه به د «RALF» له موخو سره، چې په اقتصادي لحاظ د کوکنارو په کرکېله باندې متکي کليوالي افغانانو لپاره د معيشتي بديلو اپشنونو پراختيا او وده ده؛ مرسته وکړي. | | |
| د هلمند خوراکي زون (۴۸ ميليونه امريکايي ډالر د برېتانيا او ۷۲ ميليونه امريکايي ډالر د متحده ايالاتو مرسته) | ۲۰۰۸-۲۰۱۲ | DFID او متحده ايالات |
| يو جامع پروګرام دی چې په وسايلو، بېخبنسټونو او امنيت باندې د پانګونې لپاره کوکنار کرل کېدونکي ولايتونه په غنم توليدونکو هغو باندې د بدلولو لپاره ډيزاين شوی دی. لنډمهاله برياوې يې د کوکنارو د کرکيلې سيمو راکمول، خو خالصه اغېزه يې دا وه چې د کوکنارو کرکېله د پنځو کلونو لپاره پرېښودل شوې او د پروګرام له پای‌ته رسېدو وروسته د اپيمو توليد نوې ريکارډ جوړ کړ. | | |
| کرنيزه او کليوالي جامع پراختيايي مهارت (CARD-F) لومړی پړاو (۳۰ ميليونه پونډه) | ۲۰۰۹-۲۰۱۴ | DFID او Danida |
| د معيشتي پروګرام په توګه بڼه شوی چې کليوالي مشروع عايد زيات کړي. د CARD-F په لومړي پړاو کې په پنځو ولايتونو کې پنځه اقتصادي پراختيايي کڅوړې (EDPs) او دوه ازمايښتي اقتصادي پراختيايي کڅوړې پلي شوي چې له ۲۰۰۰ ډېرې دندې يې ايجاد کړې او ګټه اخيستونکو ته يې له ۲ ميليونه امريکايي ډالرو څخه ډېره ګټه رسولې وه. | | |
| د CARD-F دوهم پړاو (د DFID ۳۰ ميليونه پونډه او د Danida ۲۱ ميليونه پونډه) | ۲۰۱۴-۲۰۱۸ | DFID او Danida |
| په لومړي پړاو کې له معيشتي پروګرام څخه، په دوهم پړاو کې د سوداګريز بازار پراختيايي پروګرام ته بدل شو او د بڼځو پر ملاتړ د تمرکز تر څنګ کوچني کرنيز فعاليتونه په کې وساتل شول. کوچنيو سوداګرو ته د پراخو تخنيکي مرستو، روزنو او معلوماتو وړاندې‌کولو سربېره، CARD-F د خصوصي سکټور د پانګونو زياتولو لپاره خطر ته په شريکه اوړه ورکولو ميکانيزم وکارولو. | | |
| د کرنيز بازار بيارغولو پروګرام (۱۴۳ ميليونه امريکايي ډالر) | ۲۰۰۳-۲۰۰۷ | USAID |
| د بېخبنسټونو په بياجوړولو، کليوالي مالي خدماتو او کرنيزې ټکنالوژۍ او بازار پراخولو باندې تمرکز درلود. په دې کې د موادو (سرې، غنمو او تخمونو) چمتوکول هم شامل و. | | |
| معيشتي بديل پروګرامونه شمال/جنوب/ختيځ ۴۰۷،۹ ميليونه امريکايي ډالر | ۲۰۰۵ - ۲۰۰۹ | USAID |
| په ټول هېواد کې د کوکنارو کرکيلې لرونکو سيمو لپاره. د کار لپاره په نقدو پيسو، بېخبنسټونو په پراختيا او موادو چمتو کولو باندې تمرکز درلود. يو مشروط حالت و، خو د اپيمو د کښت په کمولو کې اغېزمن نه و. | | |
| د کرنيز پرمختګ ځايي پروګرام (RADP) شمال/جنوب/لويديځ او ختيځ (۳۰۱،۵ ميليونه امريکايي ډالر) | ۲۰۱۴-۲۰۱۸ | USAID |
| دا پروګرام په دې انګېرنو متکي و چې ګواکې د لوړ ارزښت لرونکې غلې به د کوکنارو ځای ناستی وي، خو دا سې کوم څه ځانګړې نه شول چې د اپيم ځای‌ناستی وي. | | |
| د سوداګريزې بڼوالۍ او کرنې پروګرام (۴۰ ميليونه امريکايي ډالر) | ۲۰۱۰-۲۰۱۸ | USAID |
| د هميشه بهار بڼوالۍ او موسمي ترکاريو باندې د تمرکز تر څنګ د RADP په څېر پروګرام، خو د کوکنارو په کرکېله د پام وړ اغېزه نه وه. | | |
| شمال، ختيځ او لويديځ لپاره اضافي پرمخ‌وړونکې اقتصادي بديلونه | ۲۰۰۹-۲۰۱۴ | USAID |
| RADP ته ورته پروګرام | | |

د معیشتي بدیلو پروګرامونو دوهم ډول، یا نورې هر ډول معیشتي تګلارې، د کوکنارو د کښت او د هغه بدیل بوټي د دودولو په عایداتي برخو باندې تمرکز لري او ښیي چې دا دواړه په خپل مینځ کې د عایداتو ترلاسه کولو په برخه کې د پام وړ توپیر لري.

د کرنې وزارت او نورو له لوري د زعفرانو دودول ددې چارې کلاسیکه بېلګه ده او ښیي چې د پام وړ بدیل دی، نړیوال مارکیټ ته یو ترټولو لوړ ارزښته ځواب او په اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو د ونډې ډېرولو یوه وسیله ده. (مینویا او پین، ۲۰۱۲ز.)

خو په عاید او د موادو چمتو کولو پر چارو باندې یوازینی تمرکز ددې لامل شوی دی چې د بازار ملاتړ له پامه وغورځول شي (پولټن او نور، ۲۰۱۰ز.) او اړتیا ده چې کوچني بزګران د کلیوالي بازارونو ګواښ (مینویا او نور، ۲۰۱۵.) همدارنګه د افغانستان طبیعي ګواښونه چې د راتلونکي د کمزوري کولو لامل ګرځي او په اوږدمهال کې د پانګونې د بې‌میلۍ ګواښ، چې غواړي او سمهال ژوندي پاته شي؛ دفع کړي.

او د زیاتې او لوړې بیې ترڅنګ د معیشتي بدیلو پروګرامونو د پلان کولو پرمهال په یوازې عاید باندې په تمرکز سره د بازار د ملاتړ پراخ میکانیزمونه، په کوم کې چې د اپیمو کښت نغښتل شوی دی؛ د کریډیټ، د کروندې د دروازې رانیول او ځمکې ته د لاسرسي او د لوی خطر په چاپیریال کې د ټیټ خطر لرونکي فصل ترلاسه کول له پامه غورځول شوي دي.

په افغانستان کې د UNODC دفتر پخواني مشر مشاهده کړې و چې کلیوالي پرمختګ، که هغه د غَلو تولیدي سیمو کې د بدیل پرمختګ په نوم ونوموول شي او که د پرمختګ له‌پاره د معیشتي بدیل نوم ورکړل شي، د فصل د بدیلې سټراتیجۍ په توګه ناکام ثابت شوی دی.... ترڅو پورې چې غیرمشروع او نارسمي سکټور د میلیونونه افغانانو عاید او پایښت تضمینوي، دا به جاري وي. (بډنبرګ، ۲۰۱۲: ۵)

## اطلاعات او شواهد

د پالیسیو جوړول او عملي کول د هغو ادعاوو په واسطه پرمخ روان دي ، چې د اپیمو د ستونزې ماهیت څه دی؟ څه شی یې پرمخ وړي؟ او د مبارزوي فعالیتونو اغېزې یې څه دي؟. په هره کچه چې د ډیټا شننه د موخې او غښتلتیا او دغه راز د تفسیر د څرنګوالي په اړه ادعاوې کېږي، ډېرې نیمګړې دي.

د کوکنارو د کښت سیمه او د کلني تولید اټکل، بنسټیز میټریک ګڼل کېږي. خو آن د خاشخاشو په اړه ددغو په اصطلاح حقیقتونو ارزول هم ننګونکي دي.

لکه څرنګه چې سیګار راپور ورکړی، (۲۰۱۸ز: ۳۱) د ۲۰۰۲زیږدیز او ۲۰۰۴زیږدیز کلونو ترمنځ د «UNODC» او متحده ایالاتو د مرکزي استخباراتي ادارې د جرمونو او نشه یي توکو مرکز (CNC) له لوري وړاندې شوو سیمو ژور توپیر درلود چې په بېلابېلو میتودونو یې انعکاس موندلی و ، لومړی میتود د میداني څېړنې په ګډون د بېلابېلو میتودونو ګډوله وه په داسې حال کې چې دوهم میتود بیا د لوړ کیفیته انځورونو تشریح وه.

په داسې حال کې چې د وخت په تېرېدو سره د UNODC په میتودونو کې پرمختګونه، په ملي کچه د احصائیو د دوو بېلابېلو اټکلونو په اړه د پراخه هوکړه لیږ لامل شو ، په ولایتي کچه لا هم لوی توپیرونه په خپل ځای پاته دي. (وګورئ: سیګار، ۲۰۱۸: ۳۲) او د کوکنارو په شپږو سترو تولیدوونکو ولایتونو کې د UNODC او CNC له لوري د کوکنارو کښت ساحې په بېلابېل ډول اټکل شوي دي چې له نشه یي توکو سره د مبارزې له‌پاره ځانګړي اقدامات په پام کې نیول شوي و.

د لومړنۍ ډیټا راټولول یوه ستونزه وه خو د UNODC له لوري ددې ډیټا شننه بیا بله ستونزه ده. د بېلګې په توګه، د سیګار له قوله (۲۰۱۸ز.: ۳۱) ، دا یو خیالي تصور و چې د کوکنارو د ۲۵ سلنه کرکېلې اړول په راتلونکي کې د کوکنارو د کښت د مخنیوي له‌پاره ترټولو «اړین کار» دی.

د UNODC له لوري د ادعا شوي تصوري «اړين کار» له پاره کوم تجربوي بنسټ نه و، خو د کښت اړولو میلان د توجیه کولو له پاره، چې د ټولټال ۹،۴۴۲ هکتار ځمکې اړولو له پاره نږدې ۲،۲۹۴ میلیونه امریکايي ډالر لګېدلي و؛ د استفادې وړ وګرځېدل. دا چاره ۲۰۰۴ز او ۲۰۰۹ز. کلونو ترمنځ د ۱۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې د اړولو له کلني موخې سره په مغایرت کې وه. (سیګار، ۲۰۱۸: ۸۹)

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شو چې «اړین کار» ستونزمن و، د کښت په رښتیا اړول هم همداسې و. د کښت اړولو د کره اقداماتو وړاندې کولو د غوره وسیلې په توګه د لږ احساسي ډیټا تر رارسېدو پورې د کښت اړولو مسؤلو ډلو ځاني راپور، چې له ۲۰۰۸ز یږدیز راهیسي منل شوې وه؛ د ډېرو لویو لاسته‌راوړنو د اټکل لامل وګرځېد.

دا ستونزمنه ده چې د سیګار له ترلاسه‌کړو پایله سره مخالفت وښودل شي (۲۰۱۸: ۱۰۲) چې وايي په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې د ستراتیژۍ د نیمګړي جوتولو لامل د کښت اړول جوّت شوي دي... او ښايي له نشه يي توکو سره د مبارزې د همغږې پالیسۍ د جوړولو په وړاندې لوی خنډ هم وي.

د کوکنارو د کښت سیمه د تأمل وړ ده؛ همدارنګه د کوکنارو کښت د څه په واسطه پر مخ ځي او پر وړاندې يې د پالیسیو مناسب غبرګون څه دی؛ هم د بحث وړ دي. په ۲۰۰۷ز. کال کې د UNODC دا ادعا، چې وايي د بې‌وزلۍ او کوکنارو کرکیلې ترمنځ اړیکه نشته ولې حرص، جرمي عمل او بغاوت دی (UNODC، ۲۰۰۷: iii)؛ د متحده ایالاتو د کښت‌اړولو د مدافعینو له لوري ومنل شوه او په هوايي سپرۍ او د معیشتي بدیلو پروګرامونو په پلي‌کولو باندې د ټینګار له‌لارې توجیه کړل شوه.

په هر حال، لکه څرنګه چې سیګار ویلي و (هماغه اثر: ۳۳)، د UNODC ادعا په خپلواک ډول د خاشخاشو په تړاو د یوې سروې له‌لارې ونه‌نګول شوه او څرګنده شوه چې په تجربو نه ده ولاړه. (UNODC، ۲۰۰۸، ۱۲؛ ۵۲) د جګړې او اپیمو ترمنځ اړیکو د تړاو د پرتلنې ادعاوې هم ترسره شوې، څرګنده شوه چې جګړه د غلو یا فصل د کښت لومړنی دلیل دی.

په ولسوالۍ کچه د UNODC د کوکنارو کښت د ستونزمنې ډیټا، د شخړې د نایب په توګه د لویدیځو عسکو د مړینې د ډیټا او ددې انګېرنې په اړه، چې جګړه د بدیل فصل له‌پاره ارزښتمن بېخ‌بنسټونه له مینځه وړي؛ په اړه هم یوه څېړنه وشوه او ادعا وشوه چې د تاریاکو تولید د جګړې له‌امله دی (لینډ او نور، ۲۰۱۴ز.)

د شواهد راټولولو دوهمه ساحه له نشه یي توکو سره د مبارزوي اقداماتو او د هغوی اغېزو ترمنځ د تړاو په اړه ده. خاشخاشو د کښت په سیمه کې د اقداماتو او اغېزو ترمنځ د سببیت اړیکو د ادعاوو په اړه کوم کمی تر سترګو نه شو. په بلخ کې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ کلونو ترمنځ د خاشخاشو په کښت کې خورا ډېر کمښت او هغه لارې چې دا موخه پرې ترلاسه شوه، د یوه تعقیبېدونکي مثال په توګه ذکر شوي دي:

> *[...] نور افغاني ولایتونه باید وهڅول شي چې د شمالي زون دغه ماډل تعقیب کړي ځکه هلته رهبرۍ، تشویقونو او امنیت بزګران په اپیم باندې له تکیې څخه راګرځولي. (UNODC او د افغانستان اسلامي جموري دولت، ۲۰۰۷ز.)*

> *د افغانستان په غرنیو شمالي او ختیځو ولایتونو کې بې‌وزله بزګرانو، کومو چې له دوه تر دریو کلونو پورې خاشخاش کرل؛ د کوکنار کر پرېښود؛ ځکه په دغو سیمو کې امنیت، حکومتولي او پراختیایي فرصتونه ښه شوي دي... او په بلخ، بدخشان او ننګرهار کې وروستۍ بریاوې ددې ښودنه کوي.*

ددغو ادعاوو شواهد قانع‌کوونکي نه دي. په بلخ ولایت کې، که څه هم د امنیت په تړاو کوم شک نشته، خو بیا هم د پراختیايي فرصتونو د برابرېدو او یا ښې حکومتولۍ اړوند ډېر کم شواهد وموندل کېدای شي. (پین، ۲۰۰۸). همدارنګه د بدخشان اړوند هم، چېرته چې USAID د معیشتي بدلانه پنځه کلن پروګرام تمویل کړی دی؛ ویل کېږي چې بدیل پراختیایي پروګرام، بزګران د کوکنارو له کرکېلې څخه راګرځولي دي:

> *د شمالي افغانستان د بدیل پرمختګ پروګرام (ADP/N) په څلور کلن بهیر کې په بدخشان کې د ترکاریو، حبوباتو، غلو او مېوو تولیدات په ډراماتیک ډول ډېر شوي دي، په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو د نشه‌ای توکو او جرمونو د دفتر په وینا، د ۲۰۰۹ ز. کال تر فبروری پورې د «ADP/N» پروګرام په پای ته‌رسېدو سره، په ۱۵،۲۰۷ هکتاره ځمکه باندې د کوکنارو کښت ۹۹ سلنه ته راټیټ شوی دی. (USAID، ۲۰۰۹ ز.)*

**د ADP/N په اړه ویل کېږي چې:**

> *د بدخشان بزګرانو لېږ خاشخاش کرلي دي ځکه دوی عقلاني اقتصادي پرېکړه کړې چې د نورو ځیزونو په کر سره ډېرې پیسې ګټلی شي [...] دوی په خپله خوښه د کوکنارو کښت پرېښی [...] ځکه د ADP/N پراخ‌بنسته او باثباته پراختیایي پروګرام، اقتصادي وده او سوداګریز فعالیتونه په خوځښت راولي. (هماغه سرچینه)*

خو شواهد ښيي چې د اپیمو بیې راغورځېدل او ورسره جوخت د غنمو او بوسو د بیې لوړېدل په دغه وخت کې د کوکنارو د کرکیلې پرېښودو سره مرسته کړې او یوازې د ښه اوبه‌خور او مارکیټ سره په نښتو ځانګړو سیمو کې د ترکاریو کر د کوکنارو پرېښودو مناسب دلیل دی (مینزفیلډ، ۲۰۰۷ز.) چې د خاشخاشو په بیه کې تاوان جبرانولی شي.

په بلخ کې، د کوکنارو تولید سره د مقاطعې په اړه قوي شواهد د والي عطا له ورتیا سره اړیکه لري چې اعلان یې وکړ نور به د کوکنارو کښت ته اجازه ورنکړي او دی به دا حکم په کلکه پلی کړي او دا کار د طالبانو د وخت بندیز را په زړه کوي.

دده د دریځ په اړه لا هم دلایل او انګېزې روښانه نه دي، خو د سیاسي شخصیت په توګه د هغه له موقف سره دا ډول دریځونه بې اړیکې هم نه دي ترڅو وکولی شي له بسپنه‌ورکوونکو سره معاملات وکړي او اصلاً ده له‌پاره د عاید بدیلې سرچینې هم شته دي.

د اپیمو د بیې ټیټېدل او په ښه اوبه‌خور سیمو کې د پرېمانه تولید شتون، چې ښایي د کوکنارو بدیل فصل موجود وي؛ هغه څه دي چې کېدای شي د کوکنارو پر کرکېله باندې د بندیز له اغېزمنتیا سره یې مرسته کړې وي. (مینزفیلډ او پین، ۲۰۰۸ز.)

دا بېلګې د سیګار عمومي موندنې (هماغه سرچینه: ۱۰۲)، چې له نشه‌ای توکو سره د مبارزې د پایلو په تړاو یې د متحده ایالاتو له‌لوري د بدیلو پراختیایي پروګرامونو د ارزونې اړوند اندېښنې ښودلې وې؛ تاییدوي. یوه بله عمومي ستونزه هم شته چې د متحده ایالاتو له‌لوري د تمویل‌شوي پروګرام له اغېزو سره تړاو نه لري خو په عمومي ډول ارزول، د پایلو او دغه راز د غوره‌لنډمهاله اغېزو له‌مخې ترسره شوي دي.

لکه څرنګه چې په بدخشان کې د ADP/N پروژې په برخه کې مو ولیدل، بله ستونزه، په ځانګړي ډول د USAID له لوري تمویلیدونکي پروګرام پورې تړاو لري، د پروګرام د اغېزو ارزول په لویه کچه د خپلواکو ارزونو پرځای د پلي‌کوونکي شریک له لوري ترسره شوي دي. USAID او ADP/N دواړه ډېری وخت د محدودیتونو اړوند د لږو معلوماتو سره سره، د UNODC د ډېټا په اړه انتقادي لید نه لري.

د بحث وروستۍ نقطه د کوکنارو د کښت مکاني او زماني پېچلي ډینامیکونه دي. لکه څرنګه چې د هلمند خوراکي زون وښودل، د کوکنارو د کښت راکمولو د پالیسۍ جوړول کولی شي چې په بشپړ ډول په نورو سیمو کې د کوکنارو کرکېله راکمه کړي. (مینزفیلډ، ۲۰۱۹)

لکه څرنګه چې په ننګرهار کې په ۲۰۰۴ نه تر ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ نه تر ۲۰۰۷ زیږدیز (مینزفیلډ او پین، ۲۰۰۷: ۵-۷) پورې لیدل شوي دي، په یوه کال کې د کوکنارو د کښت په ډراماتیکه توګه راکمېدل، چې د یوې بریا په توګه اعلانیږي؛ تر ډېره موقتي ثابت شوي دي، ځکه سیاسي توافقات د صفر تر کچې راټیټېدو ته اړتیا لري.

د کوکنارو د کښت ساحې او د دغې کرکېلې د راکمولو اړوند اقداماتو لپاره د اغېزو ارزولو رسمي ډېټا، په ولسواليو او ولايتونو کې او د ولسواليو او ولايتونو ترمنځ د کوکنارو په کښت کې د تغيير او بدلون اړوند دلايلو ځای پرځای کولو ته ډېره لږه پاملرنه کړې ده، نه يې د کوکنارو د کښت اوږدمهاله ډيناميکونه راسپړلي او نه يې اړوند دلايل روښانه کړي دي.

## پايلې او اغېزې

په افغانستان کې له ۲۰۰۱زېږديز راهيسي له نشه يي توکو سره د مبارزې د پاليسيو له مشاهدې ښکاري چې عملاً د امنيت، سولې يا پرمختګ په راوستو کې د خاشخاشو د ونډې معلومولو اړوند د ګډې يا متحدې اجنډا (ګوډهينډ او نور، ۲۰۲۰ز.) د شتون په اړه شته شواهد ډېر محدود دي.

په حقيقت کې له نشه يي توکو سره د مبارزې په هڅو کې په اغېزمن ډول د کوکنارو له اقتصاد سره د جنايي او امنيتي موضوع په ډول چلند شوی دی. په داسې حال کې چې ځيني پاليسۍ د پراخ ليد په رڼا کې جوړې شوې دي، د بېلګې په توګه په پراختيايي پروګرامونو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې د چارو ځای پرځای کول، خو بيا هم شواهد ښيي چې د کوکنارو کښت اړولو، بديلو پرمختګي پروګرامونو او امنيتي مسايلو سره د جلا ستونزو په ډول چلند شوی دی چې د تخنيکي اقداماتو له لارې مشخص کېدای شي.

په دې کې د کښت اړول، بديل فصل او د کوکنارو مخنيوی شامل دی. او دا هر يو يې د خپلو موخو په ترلاسه کولو کې بريالي نه بريښي.

همدارنګه په يقيني ډ بيړي شتون هم او ترڅنګ يې دا نګېرنه هم رامنځته شوې وه چې د خاشخاشو اقتصاد يو خنډ او د افغانستان د ناورين اصلي مسير دی. د ۲۰۰۴زېږديز راپور «د افغانستان راتلونکی خونديکول» په نوم و، د دې مسودې لومړی پراګراف ډېر څرګند دی (افغان حکومت/نړيوالې ادارې، ۲۰۰۴ز. ii)، چې وريښمو لارې په اړه د افغانستان تاريخي موقعيت په ذکر کولو سره يې د ۲۰۰۴زېږديز کال موقعيت توضيح او لاندې يوه ټاکنه يې ورته مخې ته ايښې ده:

يوه لاره سوکالۍ، مالي استقلال، د لويديځ ملګري او ماډرن ډيموکراسۍ ته تللې چې د مسلمانانو او لويديځو ټولنو ترمنځ کلتوري پول جوړوي او «د تمدنونو ټکر» نظريه ننګوي. بله لاره بيا د نشه‌ای توکو مافيايي هېواد ته تللې چې ناقانوني او ځايي مليشې يې ځانګړتياوې دي...

دغه ډول بيړې يا استعجاليت، په ځانګړې ډول د کښت اړولو او د کښت ممنوع‌کولو په فعاليتونو کې شديد غبرګون ته لاره هواره کړه، ځکه د پلي‌کولو اړوند ننګونې هم ټاکتيکي او هم ستراتيژيکي ناکامۍ وې.

ځيني هڅې روانې دي چې د کوکنارو د کښت راټيټول له بديلو پراختيايي پروګرامونو سره وتړي او ځيني نور يې بيا د کښت له اړولو سره تړي. لنډمهاله زماني چوکاټونه، په پروګرام‌جوړونه کې نيمګړتياوې او له زماني پلوه نه انطباق–په مکاني لحاظ له دې ټيټ نه انطباق- د دې لامل شوي دي چې دواړه تګلارې په ښه حالت کې بې‌اغېزې او په بد حالت کې د توليد ضد وي.

خو د دې لامل له نشه يي توکو سره د مبارزې د پاليسيو د لويو شريکانو خپلمينځي او د لويو شريکانو او حکومتي ادارو ترمنځ نه همغږي ده چې له نشه يي توکو سره د مبارزې د سياست تر ټولو حيرانوونکې ځانګړنه ده. په لنډو ټکو، دوی مختلفې او بې‌وخته جنجالي ستراټيجيکې ګټې درلودې او افغان حکومت (لکه څرنګه چې سره وېشلی دی) په داسې حالت کې نه دی چې خپلې ګټې وڅاري او اداره يې کړي.

دا د ګډ کار کلاسيکې ناکامۍ په ډول تشريح کېدای شي چې د پېژندل شوو ننګونو اړوند منسجم سياست يې رابرسېره نه کړ. خو دا هم څرګنده ده چې بېلابېل لوري د پاليسۍ ستونزې په بېلابېلو لارو بيانوي او له دې امله د ممکنه حللارو په اړه همغږي نه وه. دا هم بايد وويل شي چې (په ۲۰۱۸ز. کال کې) په ډانګ پيپلي ډول د سيګار کتنې يا مشاهدې په بشپړ ډول د متحده ايالاتو د هڅو ناکامي روښانه کړه.

په هر حال، دا ډول ناکامي په ستراتيجيکه برخه کې ده چې په يوه وخت کې او د نامناسبو وسايلو له لارې د امنيت، سولې، دولتجوړونې او پرمختګ کول هر ډول هڅه يې له ګوابن سره مخ کړې ده چې په کې د خاشخاشو اقتصاد په جوړښتي ډول توضيح کېده.

د درې ګوني (trilemma) سياست په اړه د روډريک انګېرنه (روډريک، ۲۰۱۱ز.) ښه استدلال وړاندې کوي چې وايي ټول ښه ځيزونه (اقتصادي وحدت، ملي حاکميت او ولسواکي) په يوه ليبرال دولت کې په يوه وخت کې نه سره يو ځای کېږي.

لکه څرنګه چې (په ۲۰۲۰ز. کال کې) ګوډهينډ او نورو وړانديز کړی و، چې د نشه يي توکو کنټرول، سوله‌راوستل او پرمختګ د درې ګوني (trilemma) سياست معادل دي او ښايي يوازې دوه هغه يې په يوه وخت کې ترلاسه شي. د دې سربېره، د امنيت، دولتجوړونې، د کوکنارو کرکېلې کمولو او پراختيايي مرستو ترمنځ د انتخابونو په لومړيتوب‌بندۍ، ترتيب او اداره‌کولو کې نه بريا په دې معنا ده چې په حقيقت کې هيڅ رغنيزه موخه ترلاسه شوې نه ده.

خو موږ بايد حيران نه شو ځکه د ټولو اړخونو لويه هڅه د سياسي «لوبې» کول او د پاليسۍ د بريا د ترلاسه‌کولو پرځای د امتياز ترلاسه‌کول يې موخه وه. (کيين او انډريسسن، ۲۰۱۸ز.)

نو په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې اړوند سياسي مشارکت ته په پام سره، دا چاره موږ کوم ته ځای ته بيايي؟ پاليسي‌جوړونکو او اړينو اقداماتو پرمخ‌وړونکو الزاماتو ته په پام سره، پاليسي جوړونکو ته د معلومات‌رسولو له‌پاره تر کومې کچې شواهد کارول کېږي؟ او شرايطو ته په کتو بايد دا شواهد څرنګه اغېزمن رامنځ‌ته کړل شي.

کيرن براک په پاليسۍ کې مشارکت له‌پاره درې تګلارې وړانديزوي. لومړنۍ تګلاره، د څېړنې او تحليل د کارولو نسبتاً محدود درک دی ترڅو په ملي او نړيوالو پاليسيو کې د نشه يي توکو اړوند اصلي پاليسي جوړونکي تر اغېز لاندې راولي. ګمان کېږي چې دا ډول شواهد-بنسټه تګلاره د پاليسيو دود تغييرولی شي- په ښه ځواک سره رښتيا ويل.

د دغه رپورټ ادعاوو ته په کتو، په افغانستان کې له نشه يي توکو سره د مبارزې اړوند پاليسۍ‌جوړونې او پاليسۍ‌جوړونکو اړوندو شواهدو څخه ښکاري چې دا د باور وړ نه ده چې په اوس وخت کې په افغانستان کې او افغانستان له‌پاره د نشه يي توکو سره د مبارزې اړوند پاليسۍ‌جوړولو کې دا ډول مستقيم ګډون دې کوم ځانګړی ځای ترلاسه کړي.

په ورته وخت کې نشو ویلی چې په افغانستان کې له نشه‌ای توکو سره د مبارزې په سیاست کې د ناکامۍ پراخ شواهد مهم نه دي او پالیسۍ له‌پاره مختلف او غوره بیانونه (رو، ۱۹۹۲) نشي جوړېدای.

دوهمه تګلاره په پالیسۍ او عمل کې د ډېرې ونډې او له نشه يي توکو سره د مبارزې د پالیسیو په جوړولو او پلي کولو کې د حکومتونو، بسپنه‌ورکوونکو او مدني ټولنو په ګډون د اصلي شریکانو تر اغېز لاندې راوستو له‌پاره د څېړنو کارول دي.

اوسمهال په افغانستان کې مات او سیاسي‌شوي چاپېریال ته په پام سره، که څه هم دا مسئله له ستونزو خالي نه ده، خو ښايي د نشه يي توکو استعمال او بدیلو پراختیایي پروګرامونو برابرولو په څېر ځانګړو برخو کې به ځیني فرصتونه وي چې د تجاربو اغېزمنتیا یا معلوماتو له‌پاره له ځانګړو لاروګټه‌واخیستل شي.

دریمه تګلاره بیا په سیاست او تجربو کې د ګډون په لټه کې ده چې د سرحدي نامشروع اقتصاد په واسطه د ډېرو محرومو خلکو په خوښه ټولنیز تغییر راولي. دا به د خلکو او د هغوی د استازو او دغه راز د حکومت، ټولنې او بسپنه‌ورکوونکو ترمنځ مشارکت ته اړتیا ولري.

د دغې چارې د ترسره کېدو له‌پاره ډېرې نورې لارې هم شته. له یوه اړخه، په ډېر پراخ او مشورتي ډول د مناسبو رسنیو له‌لارې د مهمو مسایلو په اړه د عامه مباحثو ډېرول او ورسره مرسته کول به یوه مهمه لاره وي چې تعقیب کړل شي. بل لوري ته، د کلیدي حوزو تشخیص او ټاکل، چې د ستراتیجیک ملاتړ فرصتونه ولري؛ بله تګلاره ده.

د بېلګې په توګه، ښايي دا د یوې بلې فعالې اجنډا نکل کوي چې د اپیمو د پالیسیو اړوندو بحثونو کې شاته‌غورځول‌شوو سرحدي ولسونو یا د هغوی له استازو سره کار وکړي (نشه یي توکي او بې‌نظمي، ۲۰۰۲ز.) ترڅو په دا ډول پالیسۍ کې ونډه ولري او د خپلو ګټو دفاع وکړي. د دغو حوزو او مشارکت له‌پاره د ممکنه برابرېدونکو فرصتونو تشخیص به کېدای شي له نشه يي توکو سره په مبارزه کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د راتلونکي ملي ګډې ستراتیژۍ له‌پاره د پیل نقطه وي.

# سرچيني


Bewley-Taylor,D.R. (2014) Legitimacy and modernity via policy transfer: The utility of the 2003 Afghan National Drug Control Strategy. International Journal of Drug Policy 25: 1009-1018.

Bjelica, J. (2018) How to Fight the Booming Opiate Economy? Harsher and progressive laws, but to no avail. Afghanistan Analyst Network, 14 June 2018, https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/economy-development-environment/how-to-fight-the-booming-opiate-economy-harsher-and-progressive-laws-but-to-no-avail/

Bjelica, J. (2019) Afghanistan's Anti-Corruption Institutions: Too many, and with too few

results. Afghanistan Analysts Network, 29 May 2019.

Buddenberg, Doris and William A. Byrd (editors) (2006) Afghanistan's Drug Industry:

Structure, Functioning, Dynamics, and Implications for Counter-Narcotics Policy. Vienna and Washington, DC: UNODC and the World Bank.

Buddenberg, D. (2012) Crop Substitution and Narcotics Control, 1972 – 2010. Chapter 25 in van Bijlert, M. and Kuovo, S (eds) Snapshots of an Intervention: The Unlearned Lessons of Afghanistan's Decade of Assistance (2001-2011). Kabul, Afghanistan Analysts Network.

Byrd, W.A. (2007) Responding to Afghanistan's Development Challenge: An Assessment of Experience During 2002-2007 and Issues and Priorities for the Future, South Asian Region. PREM Working Paper Series, Report No. SASPR-11. Washington: The World Bank.

Byrd, W.A. (2015). Economic Management in Afghanistan: What Worked, What Didn't, and Why? Briefing Paper. Kabul, Afghanistan Analysts Network.

Christian Aid (2019) Peace, illicit drugs and the SDGs. A Development Gap. Policy Brief, London, Christian Aid.

Clark, K. (2020) The Cost of Support to Afghanistan: Considering inequality, poverty and lack of democracy through the 'rentier state' lens. Special Report, Afghanistan Analysts Network.

DCAF Afghanistan Working Group (2011) Afghanistan's Security Sector Governance Challenges, DCAF Regional Programme Series No 10. Geneva: Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces.

Drugs & (dis)order (2020) Voice from the borderlands 2020: Illicit drugs, development and peacebuilding. London. Drugs & (dis)order team, SOAS.

Fishtein, P. and Wilder, A. (2011) Winning Hearts and Minds? Examining the Relationship between Aid and Security in Afghanistan. Boston. Feinstein International Centre, Tufts University.

Goodhand, J. and Mansfield, D. (2010) Drugs & (dis)order: A Study of the Opium Trade, Political Settlements and State-Making in Afghanistan. Working Paper no. 83. Crisis States Working Paper Series No 2, LSE.

Goodhand, J., Meehan, P., Bhatia, J., Ghiabi, M. and Sanin, F.G. (2020) Critical policy frontiers: the drugs-development-peacebuilding trilemma. Journal of International Drugs Policy.

Government of Afghanistan/International Agency Report (2004) Securing Afghanistan's future: Accomplishments and the Strategic Path Forward. Draft. Prepared for the March 2004 International Conference. Kabul.

Habermas, J. (1976) Communication and the evolution of society (English ed. 1979). London, Heinemann.

Hall, S. M., Havassy, B. E. and Wasserman, D. A. (1990) Commitment to abstinence and acute stress in relapse to alcohol, opiates, and nicotine. Journal of Consulting and Clinical Psychology, 58(2), 175–181. https://doi.org/10.1037/0022-006X.58.2.175

Keane, C. (2016) The Impact of Bureaucratic Conflict on US Counternarcotic Efforts in Afghanistan. Foreign Policy Analysis 12: 295-314.

Keen, D. and Andersson, R. (2018) Double games: Success, Failure and the relocation of risk in fighting terror, drugs and migration. Political Geography 67, 100-110.

Lind, J. L., Moene, K. O. and Willumsen, F. (2014) Opium for the Masses? Conflict-Induced Narcotics Production in Afghanistan. The Review of Economics and Statistics, 96 (5): 949-966.

Lister, S. (2006) Caught in Confusion: Local Governance Structures in Afghanistan. Briefing Paper. Kabul. AREU.

Mansfield, D. (2019) The Helmand Food Zone: The Illusion of Success. Synthesis Paper, Kabul, AREU.

Mansfield, D. and Pain, A. (2005) Alternative Livelihoods: Substance or Slogan? Briefing Paper. Kabul, AREU.

Mansfield, D. and Pain, A. (2006) Opium Poppy Eradication: How to raise risk when there is nothing to lose? Briefing Paper, Kabul, AREU.

Mansfield, D. and Pain. A (2007) Evidence from the Field: Understanding Changing Levels of Opium Poppy Cultivation in Afghanistan. Briefing Paper, Kabul, AREU.

Mansfield, D. and Pain, A. (2008) Counter-Narcotics in Afghanistan: The Failure of Success? Briefing Paper. Kabul, AREU.

Minoia, G. and Pain, A. (2016) Saffron: The social relations of production. Working Paper 48. SLRC, AREU and ODI.

Minoia, G., Mumtaz, W. and Pain, A. (2015) Peeling the Onion: Social Regulation of the Onion Market, Nangarhar, Afghanistan. Economic & Political Weekly, L (9):79- 86.

Ministry of Counter Narcotics (2006) National Drug Control Strategy. Kabul, MCN, IROA.

Mosse, D. (2004) Is Good Policy Unimplementable? Reflections on the Ethnography of Aid Policy and Practice. Development and Change 35 (4): 639-671.

Nemat, O. and Pain, A. (2020) Measuring progress towards SDG16 in Afghanistan: ignoring the elephant in the room, International Journal of Drug Policy. Submitted.

Olson, M. (2000) Power and Prosperity: Outgrowing Communist and Capitalist Dictatorships. New York: Basic Books.

Pain, A. and Shah, S. M. (2009) Policymaking in Agriculture and Rural Development in Afghanistan. Policy Process Studies. Kabul: AREU.

Pain, A. (2011) Opium Strikes Back. The 2011 Return of Opium in Balkh and Badakhshan Provinces. Case Study Series. Kabul: AREU.

Pain, Adam. (2012) Livelihoods, basic services and social protection in Afghanistan. Working Paper 3. SLRC/AREU. ODI London.

Poulton, C., Dorward, A. and Kydd, J. (2010) The Future of Small Farms: New Directions for Services, Institutions, and Intermediation. World Development, 38 (10): 1413-1428.

Rodrik, D. (2011) The Globalization Paradox: Democracy and the Future of the World Economy. Oxford, Oxford University Press.

Roe, E. (1994) Narrative Policy Analysis. Durham and London. Duke University Press.

Rubin, B. (2002) The Fragmentation of Afghanistan: State Formation and Collapse in the International System. New Haven and London, Yale University Press.

Saltmarshe, D. and Medhi, A. (2011) Local Governance in Afghanistan: A View from the Ground. Synthesis Report. Kabul, AREU.

SIGAR (2018) Counternarcotics: Lessons from the U.S Experience in Afghanistan. Special Inspector General for Afghanistan, Arlington, Virginia.

SIGAR (2019) Reintegration of Ex-Combatants, https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-19-58-LL.pdf (accessed on 2 August2020); Derkson, D., 2011. Impact or Illusion? Reintegration under the Afghanistan Peace and Reintegration Program, https://www.usip.org/sites/default/files/PB%20106.pdf (accessed on 12.07.2020)

State Department, 2020. Agreement for Bringing Peace to Afghanistan between the Islamic Emirate of Afghanistan which is not recognized by the United States as a state and is known as the Taliban and the United States of America.

Suhrke, A. (2011) When More is Less: The International Project in Afghanistan. London, Hurst.

Todd, Catherine and Safi, Naqibullah and Strathdee, Steffanie. (2005). Drug Use and Harm Reduction in Afghanistan. Harm Reduction Journal. 2. 13. 10.1186/1477-7517-2-13.

Todd, C.S., Macdonald, D. Khoshnood, K. Mansoor, G.F. Eggerman, M. Panter-Brick, C., (2012) Opiate use, treatment, and harm reduction in Afghanistan: recent changes and future directions, International Journal of Drug Policy, Sep; 23 (5): 2012, http://www.ncbi.nlm.nih.gov/pubmed/22717389 (Accessed on 12.07.2020).

Transnational Institute (2006) Losing Ground: Drug Control and War in Afghanistan. TNI.

UNODC (2007) Afghanistan Opium Survey 2007. Kabul & Vienna. Ministry of Counternarcotics and UNODC.

UNODC (2008) Thematic Evaluation of the Technical Assistance Provided to Afghanistan by the United National Office on Drugs and Crime. Illicit Monitoring Program, Volume 6. Vienna, UNODC

UNODC (2009). Drug Use in Afghanistan: 2009 Survey. http://www.unodc.org/documents/data-and-analysis/Studies/Afghan-Drug-Survey-2009-Executive-Summary-web.pdf

UNODC (2014) Impacts of Drug Use on Users and Their Family in Afghanistan. http://www.unodc.org/documents/data-and-analysis/Studies/Impacts_Study_2014_web.pdf

UNODC (2016) Afghanistan Opium Survey 2016. Cultivation and Production. Kabul, UNODC and Ministry of Counter Narcotics/ Narcotics Survey Directorate.

UNODC (2019) Research Brief, Global Overview of Alternative Development Projects (2013-2017). Vienna, United Nations Office on Drugs and Crime.

US Bureau for International Narcotics and Law Enforcement Affairs, (2010) Opium Smoke: The Study of Second- and Third-Hand Exposure in Women and Children of Afghanistan. http://www.state.gov/documents/organization/141833.pdf

Ward, C., Mansfield, D., Oldham, P and Byrd, E (2008). Afghanistan: Economic Incentives and Development Initiatives to Reduce Opium Production. Kabul. DFID and World Bank

Wilder, A. (2007) Cops and Robbers, Cops or Robbers? The struggle to Reform the Afghan National Police. Issues Paper Series. Kabul: AREU.

World Bank, Islamic Republic of Afghanistan (2014): Agriculture Sector Review: Revitalizing Agriculture for Economic Growth, Job Creation and Food Security. Washington, DC, 2014.

World Bank and the Islamic Republic of Afghanistan (2015) Poverty Status Update: An analysis based on National Risk and Vulnerability Assessment. (NRVA) 2007/8 and 20111/12. Kabul, World Bank

Zezza, A. and Migotto, M. (2007). Towards a Framework for Agricultural Development and Food Security in Afghanistan. In Pain, A. and Sutton, J. (eds) Reconstructing Agriculture in Afghanistan. Rome and London, Food and Agricultural Organization and Practical Action. 251-281.



ISBN 978-9936-641-71-6

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

drugs & (dis)order

’نشه يي توکي او بې نظمي(نظم): تر جګړې په وروسته ډګر کې د سولې پرمهال د پاينښت لرونکي اقتصاد رامنځ ته کول يوه څلور کلنه څېړنيزه پروژه ده، چې په افغانستان، کولمبيا او ميانمار هېوادونو کې د نشه يي توکو له ناقانونه اقتصاد د سولې اقتصاد پر لور د تګ څرنګوالي په تړاو اړين شواهد وړاندې کوي.

دا څېړنه د برېتانيا د څېړنې او نوښتونو اداري اړوند د نړيوالو ننګونو د څېړنې بودجې(GCRF) له خوا تمويل شوې ده. په دې څېړنه کې وړاندې شوي نظريات د ليکوالانو دي او د نړيوالو ننګونو د څېړنې بودجې په سازمان، برېتانيا حکومت يا هم همکارو سازمانونو نظر نه منعکسوي.

© Drugs & (dis)order 2021

Twitter: @drugs_disorder

Website: www.drugs-and-disorder.org

مخ ليد انځور: د ډېر شمېر منهو نيالګيو باغ په ګوته کوي. آنځور د نړيوال بانک له لوري اخېستل شوی. داخلي انځور: په څاڅوبي کې د موټرو تم ځای دی، چې موټر له هغه په اوښانو او کچرو د لېږد لپاره چمتو کېږي، ننګرهار، افغانستان. آنځور د دوامداره ودې او څېړنو موسسې له لوري اخېستل شوی. شا انځور: افغان بزګرو ته د کروندې په معاصرو تخنيکونو کې د روزنې ورکړه. آنځور د DEFID له لوري اخېستل شوی دی.